تحریری کورس مناظرہ

تشریحات النابغة في حل المسائل المختلفة

من ملفوظات

شیخ الاسلام سلطان المناظرین نابغۃ العصر شیخ القرآن والحدیث شہید ابن شہید

ابوالعزیز غلام حضرت غلام الحنفی شہید عرف نابغۃ تقبلہ اللہ

محرر ومرتب

سید محمد ثواب

ابن سید اسماعیل باچا صاحب

اولہ حصہ

ناشر

مدرسہ حذیقۃ الاحناف

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

مسئلة علم الغيب :

التحقيق في علم الغيب

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا﴾ (سورة كهف آيت :٦٥)

بله مسئله نزاعي چې زير بحث کړخو مه هغه مسئله د علم الغيب ده الى غير الله تعالى ته يې اثبات څنګه دا مسئله يوه سخته او پيچيده مسئله ده او متضاد نصوص په کې ښکاريږي کوم خلک چې مطلقاً نافيين دي د علم غيب د مخلوق نه هغوي هم استدلالات د قرآن عظيم الشان د نص نه او د چند صحيح احاديثو نه کوي او کوم خلک چې مثبتين دي عبادو ته د علم غيب د څه برخې هغوي هم د قرآن عظيم الشان نه نصوص پيش کوي او د صحيح احاديثو نه اخذ کوي خو مخکې له دې نه چې مونږ خپلې موضوع ته راځو نو دا خبره مسلمه ده بيننا وبين الخصم چې کوم ګروته کاهنانو ته او پيريانو ته د غيبو علم نشته دا مسلمه خبره ده مونږ چې کوم اثبات جزي کوو د څه علم عبادو خواصو لره نو د هغې به دا معنى نه وي چې کاهن ته يې ثابته وو يا يې پيري ته ثابتوو پيريانو ته کاهنانو ته په اتفاق بيننا وبين الخصم علم غيب نشته او ځومره ځايونو کې چې رد په علم غيب راځي اکثرا دا رد په کهانت باندې وي او رد د کلي علم غيب د نفي وي تفصيلي کلي او رد د علم غيب ذاتي وي.

نو زه اولاً هغه نصوص چې خلک د مطلق علم غيب نه انکار کوي او وايي که چا مخلوق ته د غيبو څه برخه هم ثابته کړه د علم کافر دي مشرک دي د هغوي استدلالات د قرآن عظيم الشان د نصوصو نه چې هغوي يې پيش کوي د قرآن عظيم الشان متعددو نصوصو کې د غيب د علم د مخلوق نه نفي شوي خو په کومو الفاظو کې چې نفي شوې داد غيب معرف په الف لام غيب منکر چيرته هم په قران عظيم الشان او نصوصو کې د مخلوق نه نفي نه ده ثابته غير معرف په الف لام سره.

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

الإيرادات :

سورة الانعام آيت نمبر ۵۰:

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ﴾ محبوب به خلكو ته داسې ووايه نه وايم تاسو ته چې خزانې له ما سره دي.

﴿وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ﴾ او نه وايم تاسو ته چې زه په غيبو پوهيږمه.

﴿وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌ﴾ او نه وايم تاسو ته چې زه فرشته يمه.

﴿إِنۡ أَتَّبِعُ﴾ اتباع نه كومه.

﴿إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ﴾ مگر د هغې چې وحي كيږي إِلَيَّ.

﴿قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ﴾.

دارنګې سورة الاعراف آيت ۱۸۸:

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا﴾ مطلق راغلې بدون د استثناء نه زه ځان لره د ضرر او نفعې مالک تام نه يم دلته استثناء راځي: ﴿إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ﴾

نو چې كوم ځاى كې مطلق دي هغه به په دې مقيد شي هر ځاى كې به دا قيد لګوي كه د خداى تعالى اراده او مشيت وي بيا د نفعې او ضرر ملكيت راته شته كه مشيت د الله نه وي بيا نشته دا مسلمه خبره ده كه څوک نبي اكرم ﷺ ته داسې ملكيت او اختيار ثابتوي چې په مقابل د مشيت الله تعالى كې دا مقدم ګڼي نو دا خو سره د مسلمان عقيده نه ده بعضې خلک داسې نظر لري كه د خالق يو كاريو شان خوښ وي او نبي عليه السلام د هغې خلاف وغواړي نو دده به منل كيږي او هغه به خپله خوښه ورته ماتوي.

نو دغه غلطه خبره ده د نبي عليه السلام ارادې او اختيارات د خالق په اختيار مقدم ګڼل داد مسلمان عقيده نه ده دا جدا خبره ده چې دې د خداى تعالى په دربار كې يو محبوبيت لري څه دعوات خو يې قبلوي چې څه وغواړي هغه مني ليكن دې نه اختيار تام كلي ثابتول چې ګڼې دې مختار كل دي او چې دې څه وغواړي هغه به كيږي ولو كه هغه د اِله اراده نه وي نو دغه غلطه عقيده ده.

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

نو دې ځای کې بیا نفي راځي :

﴿وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ که واي چې په غیبو پوهیدې .

﴿لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ﴾ طلب د کثرت د خیر به ما کړې وه .

دارنګې سورة یونس آیت ۲۰ :

﴿وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ﴾ غیب او د هغې علم الله سره دې .

دارنګې سورة هود آیت : ۳۱ :

﴿وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ زه په غیبو نه پوهیږم .

دارنګې سورة النمل آیت : ٦٥ :

﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ﴾ ووایه خلکو ته علم نه لري مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ څومره مخلوق چې دي دا ټول علم نه لري الْغَيْبَ په غیبو باندې .

﴿إِلَّا اللَّهُ﴾ غیر د الله نه .

﴿وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ﴾ دوي علم نه لري چې کله به دوي پورته کیږي یعني بعث بعد الموت د قیامت علم خاصه د باري تعالی ده دا نصوص چې دي ادله یې قویه د نافیینو د علم دي له مخلوق نه اوس که دلته تاسو وګورئ په (۵) آیتونو کې چې نفي راغلې ده د الْغَيْبَ راغلې ده ګوره ټول معرف په الف لام نفي کیږي دغه ځای کې مفسرین کرام راجح تاویل دا را اخلي چې مراد له الف لام نه الف لام استغراقي دي :

﴿لَّا يَعْلَمُ﴾ علم نه لري .

﴿مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ﴾ په هر فرد د افرادو د غیب علم باندې .

نو چې هر کله دلته نفي د هغه کلي استغراقي وشوه په بعضې مغیباتو چې من عند الله چا ته علم ثابتیږي د هغې سره هیڅ تضاد نه لري کل غیب تفصیلي جزي چا ته نشته دي .

دویمه دا ده څومره چې نفي راځي په هغه نفي کې نفي ذاتي ده .

Scanned by CamScanner

علم غیب په دوه قسمه دي : (۱) ذاتي ، (۲) عطائي . یو هغه دي چې عطاء من الله دي چې الله یې چا ته ورکړي نو معنی دا چې ذاتاً څوک ددې علم نه لري ځکه اصلاً چې غیب دلته مونږ زیر بحث کړځولې دي نو دلته غیب په هغه څیز باندې دي چې د هغې درک حواس خمسه یې ظاهره نه شي کولې او د هغې په حصول باندې اسباب ظاهري عادي مستعمل نه وي .

فلهذا په دغه تعریف باندې بیا ترې نه موسمیاتو والا چې څه اخبارات ورکوي هغه د غیب نه بهر شول او په هغې د دغه علم اطلاق نه کیږي ځکه هغوي ظاهري اسباب لري د هغې اسبابو نه دوي ته څه نا څه پته لري .

تفسیر ابن جریر طبري دې آیت کریمه باندې ﴿وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ ذکر کوي :

أی ولا ادعي علم الغيب . زه د علم غیب دعوی نه لرم .

فإني لا أعلم إلا ما علمني الله . زه علم نه لرم مګر هغه چې ما ته زما رب علم راکړې دي .

نچوړ ددې څه شو چې نفي د ذاتي یې له ځان نه کړې نه د عطائي چې زه خپل نه لرم کوم څه چې لرم نو علمني الله ما ته اِلٰه راکړې دي چې څه ثابت دي عطاء ده چې کوم نفي دي ذاتي دي دا هغه یو جواب ته اشاره ده چې دلته د لا یعلم هغه کس ته نسبت کیږي هغه مدعي لره چې څوک یې دعوی کوي چې دوي نه لري ذاتاً علم .

روح المعاني جلد ٦ صفحه ٢٤٢ :

ولا أعلم الغيب إلّا بإعلامه سبحانه .

زه په غیبو علم نه لرم مګر د خدای تعالی په اعلام که هغه علم راکړي بیا شته .

ددې د عبارت نچوړ هم دا چې ذاتي نفي دي زه مدعي له خپل ځان نه د غیبو د علم نه یم څه چې دي نو ما ته راکړي شوې دي دا هغه اول جواب ته ما دا دوه حوالې پیش کړي چې دلته نفي د غیب ذاتي راغلي ده رد نه دي په عطاء باندې .

دویم جواب چې دلته الف لام استغراقي دي روح المعاني جلد ١٠ صفحه ٢٢٢ په دغه آیت باندې : ﴿وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ﴾ بنکلي تفصیل کوي :

واستشكلت هذه الآية مع ما صح انه ﷺ أخبر بالمغيبات الجمة .

Scanned by CamScanner

يو غت اشكال واقع شو د دې آيت كريمه د هغو رواياتو سره چې په هغې كې نبي عليه السلام د جمعې غفيرې يعنې د ډيرو مغيباتو خبر وركړې دي او دا نفي كوي او هغه علماء محدثينو من اعظم معجزات النبي صلى الله عليه وسلم نه ګرځولې دي .

واختلف في الجواب . علماء اختلاف لري د تطبيق جواب نه دې د آيت نه به څوک جواب وكړي يعنې دغه آيتونه او هغه روايات چې نبي عليه السلام د غيبو خبرونه وركړې دې تطبيق څه دي .

فقيل . چا دا جواب كړي :

المفهوم من الأية نفي علمه عليه الصلاة والسلام اذ ذاك بالغيب المفيد لجلب المنافع ودفع المضار .

كوم ځاى كې چې نفي راغلي ده دا هغه علم دې چې هغه جلب د منافعو دفع د مضاراتو وي .

دې ته اشاره ده :

وما يعلمه صلى الله عليه وسلم من الغيوب ليس من ذلك النوع .

او نبي عليه السلام چې كوم غيوب علم لري هغه ددې نوعې نه ، نه دي هغې كې دفع د مضراتو جلب د منافعو نه ده نو نفي دې ځاى كې راغلې دا يو جواب شو . بيا وروسته وايي :

وقيل . چا ويلي :

المراد نفي استمرار علمه عليه الصلاة والسلام الغيب .

نفي استمراري راغلي ده .

ولو كنت أعلم و مجيء كان للاستمرار شائع .

كان د استمرار د پاره شائع كثير دي .

ولو كنت أعلم . كه زه په دائمي استمراري طريقه مي علم لرلې .

لاستكثرت من الخير . دا بله اشاره شوه .

دريم جواب كوي :

Scanned by CamScanner

وقيل المراد بالغيب وقت قيام الساعة.

مراد دلته د غيب نه فقط د قيامت د ورځې علم دي هغه هيڅا ته هم نه دي ورکړې شوې حتى نبي اكرم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هم نه دي ورکړي شوي.

څلورم جواب کوي:

اَلْ في الغيب للاستغراق. الف لام په الغيب کې استغراقي دي.

وهو صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يعلم كل غيب.

نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ په هر غيبو نه پوهيږي نفي د کلي تفصيلي ده.

فان من الغيب ما تفرد الله تعالى به. خداى تعالى په کې متفرد دي.

كمعرفة كنه ذاته تبارك وتعالى. هيڅا ته د هغې علم نشته.

وكمعرفة وقت قيام الساعة.

پنځم تاويل کوي: اللباب التاويل للخازن هغه را اخيستي:

في الجواب عن ذلك انه يحتمل ان يكون قاله عَلَيْهِ ٱلصَّلَاةُ وَٱلسَّلَامُ على سبيل التواضع والادب.

وايي ممکنه ده چې شي دي دا قول د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ عاجزي وي.

والمعنى لا أعلم الغيب إلا أن يطلعني الله تعالى عليه ويقدره لي.

زه علم غيب نه لرم مگر که خداى تعالى اطلاع راکړي نو بيا شته.

تاسو ته ما هغه لره تکره ترې را اخيستي:

واختار بعضهم الاستغراق أي لا يعلم من في السماوات والارض كل غيب إلا الله فانه سبحانه يعلم كل غيب لانه الأوفق بالمقام.

دا په هغه ځاى باندې.

قل لا يعلم من في السماوات والارض الغيب الا الله.

په هغه ځاى يې دا تفضيل کړې دي.

ولو كنت أعلم الغيب لأستكثرت من الخير.

Scanned by CamScanner

هغه عبارت وه چې مخکې ما ذکر کړه.

وجوز بعضهم ان يكون منهم من يعلم بعض الغيوب.

بعضې علماء جواز ورکوي چې انبياء کې څوک دي په بعضو غيب پوه شي.

ففي بيان قواطع الاسلام تأليف العلامة ابن حجر بعد الرد.

يا ليکي چې علامه ابن حجر په دې باندې رد کړي په هغه چا:

على من أكفر من قيل له اتعلم الغيب فقال نعم.

ته په غيبو پوهيږې هغه وويل نعم، بعضې علماء وايي دا کافر شو نو ابن حجر صاحب پرې رد کړي چې دې ته کافر مه وايي هغه به بعضې مغيبات يادوي.

لأن فيما قاله تكذيب النص وهو قوله تعالى: ﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَ﴾ (الانعام آيت: ۵۹)

وقوله تعالى: ﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ﴾ (الجن آيت: ۲۶-۲۷)

استثناء وشوه نو په دغه استثناء کې رسل ته څه ورکول کيږي کنه نو:

فالخواص يجوز أن يعلموا الغيب في قضية او قضايا.

خواص چې رسل او انبياء دي اولياء دي جائز دي چې په غيبو باندې دې علم ولري په يوه قضيه او په ډيرو قضايا وو کې.

كما وقع لكثير منهم واشتهر والذي اختص به تعالى انما هو علم الجميع وعلم مفاتح الغيب المشار اليها بقوله تعالى: ﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ﴾.

دا مراد دي دا ددوي د استدلالاتو نه د چند تفاسيرو اقوال په جواب کې مونږه ذکر کړل چې مراد د دغې مغيباتو نه مغيبات ذاتي علم دعوى کول دي بدون د توسط ددې نه چې دا من عند الله وي او يا استغراقي نفي شوې دي يا غيب استمراري دي د انبياء عَلَيۡهِمُ السَّلَامُ علم کله وي کله نه وي.

Scanned by CamScanner

گاهي با پاي اعلا نشينم گاهي با پاي پشت پاي خود نه بينم

نو دغه تعبير ترې نه كول په كار وي كومو شعراء چې په شعرونو كې ددې نه مزيد څه نسبتونه كړي دي هغه دي محمول شي په حالات د سكر او فنا في الرسول د هغوي باندې اقتداء دي ناجايزه شي لكه بعضې شاعران دا وايي چې زري زري نه خبردار دي ولې نه يې مني دا شعر زره زره علم نبي عليه السلام ته ثابتول دا علم كلي تفصيلي دي داد اسلافو رايه نه ده مفسرين په دغه رايه رد كوي بعضې مغيباتو علم دې د كل نه دي نو دا شعر غلط دې په قانون د شريعت كې او البته صاحب ددې يو عاشق وه كه فنا في الرسول كې ترې بې اختياره دا الفاظ وتلې وي تقليد يې ناروا دي بل څوك دې نه وايي.

او دغه شان ومن علومك علم اللوح والقلم نو د هغې دا معنى كول چې نبي عليه السلام علم په لوح قلم كې هم څه حصه شته خو صحيح دي او كه داسې وايي چې د نبي عليه السلام علم ډير زيات دي او دا لوح او قلم د هغې نه يوه حصه ده يعنې د هغه خو دومره علم دي دا ترې يوه حصه ده نو دا غلط تاويل دي په دغه ځاى باندې يعنې د نبي عليه السلام په علومو كې د لوح او د قلم څه علم هم شته هغه تقدير علم هم بعضې اوقاتو كې خداى تعالى وركړې دي دا مسئله اختلافي ده چې انبياء ته د تقدير علم وركولې شي او كه نه بعضې علماء يې رد وي بعضې ثابتوي ليكن مثبتينو د پاره قوي دليل د سورة يوسف د حضرت يوسف عليه السلام او قيديانو چې كوم خوبونه ليدلي وه او ده بيا د هغې تعبيرونه وركړې وه نو بيا ده جواب وركړو:

﴿قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ﴾.

فيصله كړې شوې وه نو قضاء يې شوې ده نو كه ده سره د قضاء علم نه واي نو څنګه مخكې د وقوع ددې كار نه هغه مخكې نه اعلان كوي چې دا فيصله په قضاء كې شوې ده چونكې قضاء يو تقديري يو پټ ځاى دي د صوفيه وو د اهل كشف اقوالو ته په كې ډير اعتبار دي.

امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله د هغه دا رايه ده چې عام متكلمين وايي قضاء دوه دي: (۱) معلق ده، (۲) مبرمه ده، په مبرمه كې د عبادو دخل د دعاء نه وي او مطلب دا چې په هغې كې كه څوك دعا او هم كړي مبرمه فيصله پرې تغير نه خوري او هر چې معلق ده:

Scanned by CamScanner

لا يرد القضاء الا الدعاء.
قضاء نه شي ردولې مګر دعاء يې ردوي. روايت د ترمذي شريف دي.
نو دا هغه قضاء يې مبرمه نه ده دا معلق قضاء ده دا په دعاء ګانو بدليږي.
امام رباني رَحِمَهُ اللهُ وايي چې عام متكلمين دوه قضاء ثابتوي معلق مبرمه ليكن دې وايي چې زه وايم چې د معلقې او مبرمې په مينځ کې يوه دريمه قضاء ده چې هغلته د اخص الخواصو دعاء كار كوي او د هر چا دعاء په كې كار نه كوي بيا يې دې د پاره يو مثال ويلې وي.
زمونږ په علاقه کې يو سړي ما ته راغې چې دعاء راته وكړه چې زما ځوي وشي واي زه چې مراقبه کې كيناستم معلق قضاء کې ده د لپاره د ځوي څه ذكر نه وه او هر چې مبرمه وه هغې کې د چا دعاء كار نه كوي نو ما ورته وويل چې ستا ځوي نه كيږي واي ده ما ته وويل چې ته څنګه د خداى تعالى دوست يې چې ستا په خوله يو ځوي ما ته نه راكوي واي دا پيغوريې ډير بد پيغور راكړ وخت په وخت به د سائل دا پيغور ما ته راياديده او په ما به ډير زيات خفګان راتلو چې دا يې څه عجيبه خبره وكړه.
يو كال تير شو يو كال بعد يې ديو ولي مزار ياد كړې دې سره خوا کې تيرېدمه ما ته القاء وشوه چې ورشه د غه صاحب ما ته وسيله كړه هغه ستا مشكل به پوره شي واي لاړمه چې هغه مې وسيله كړو ورته واي القاء راته وشوه چې هغه سړي ته زيري وركړه خداى تعالى به ځوي وركړي واي لاړمه هغه ته مې زيري وركړو هغه ته خداى تعالى ځوي وركړو واي زه پوهه شومه چې د معلقې هغلته خو ما مراقبه کې وكتل ده د پاره څه نه وه مبرمه کې خو دعاء كار نه كوي نو زه پوهه شومه چې د معلقې د مبرمې مينځ کې يوه دريمه قضاء هم مخفي ده چې د خاصو اولياو دعاء په کې كار كوي او د هر چا يې نه كوي.
دا چې قضاء ګانې دې دري شي نو دا چې مونږ څومره هم دنيا کې ګورو قضاء ګانې دري دي د خالق قضاء په مخلوق قياس هم بنه نه وي خو دې کې به فوائد وي د اقانونو نه هم عقلاء جوړ كړي وي افغانستان کې ابتدائيه ده مرافعه ده بيا تميز دې پاكستان سيشن دې بيا هائيكورټ دې او سپريم كورټ دې نو قضاء ګانې دلته هم دري دي هلته هم دري دي هر ځاى کې چې ګوري دري وي نو بيا داسې وي دا نورې قضاء ګانې څه د پاره وي يوه فيصله

Scanned by CamScanner

وکړه بس خلاصه شوه دې کې د سفارش کار وي يو په کې تحقيق پوره وشي بل په کې سفارش چې کار وشي نو دې د پاره دا بعضې اوس ګوره چې په افغانستان کې چې ابتدائيه فيصله وکړي مرافعې ته لاړ شي مرافعه فيصله وکړي تميز ته لاړ شي تميز کې سفارش کار کوي که نه يې کوي سفارش پيش کړه ورته دلته به يې مجرم ثابت کړې وي د اعدام فيصله به وي هلته به يې معاف کړي نو دا په هغه دعاګانو هغې کې فرق راشي خو چې کله تميز فيصله وکړه ګويا کې دا هغه مبرمه قضاء شوه بيا په کې څه نه چليږي البته باچاه وقت لره څه اختيارات په هغې کې هم وي خالق خو مختارِ کل دي کولې شي چې په قضاء مبرمه کې هغه څه تغير راولي را دې ولي د هغه خپل اختيار دي، خو کله په عامو اوقاتو کې په هغې کې تغير نه راځي دا هغه نصوص وو چې دوي ترې نه استدلالات کوي.

اوس دا نصوص يقيناً که ظاهر ته وګوري د مفسرينو شرحې ته ونه ګوري همدغه ددوي دعوی ثابتوي چې مخلوق ته د غيبو علم نشته خو ليکن قرآن عظيم الشان کې څه ډير نصوص دي چې مخلوق ته بيرته ددې څه حصه ثابتوي نو قران کريم به ټول منو داسې نه چې نيم را واخلو او نيم پرې وجنګوو:

المِراء في القران كفر.

حديث شريف کې راځي قرآن کريم کې جګړه کفر دي نو جګړه شيخ عبد الحق محدث دهلوي رَحِمَهُ اللهُ وايي چې جګړه داده چې يو آيت د بل ټکراو جوړ کړي معارضه پرې جوړه کړي معارضه نشته تطبيق يې وکړه.

سورة کهف آيت: ٦٥:

﴿فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا﴾.

معروف قول دادی چې خضر عَلَيْهِ السَّلَام.

﴿وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا﴾.

ورکړي وه مونږ ده لره د خپل جانب نه علم.

زمونږ بعضې حنفي علماء پاکستان کې او اکثر په افغانستان کې دريو داسې فکر جوړ کړي ده چې اثبات د علم غيب نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته داد بريل عقيده ده او نفي ګڼې د ديوبند عقيده ده حقيقت کې هغه حقيقت دوي هم مني چې د کوم ځا عقيدې جوړې دي کشف مني اولياء ته

Scanned by CamScanner

الهام مني تلقي بالقلب مني ورته د انبیاء علیهم السلام وحي منامات صحیحه په څو طریقو چې د علم د حصول هغه لارې دي هغه ټولې مني شان عزت دا هرڅه مني خو بس:

کونه علماً، دغه ټکي نه مني واي نه دا انباء ده اخبار ده او دا اظهار دي دې ته علم ته ویل کیږي نو دا نصوص مونږ هغه څپله حنفي علماء ته هم ښکاره کوو چې د قرآن عظیم الشان په اصطلاح او د محدثینو مفسرینو په اصطلاح باندې د اولیاء د غې علم ته علم غیب ویل شوې دي نو بیا محض ضد مه کوي له بریلویانو سره چې دوي ورته علم وایي مونږ ورته علم نه وایو انباء هم ورته ویل شوې ده:

﴿ ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ﴾.

او اخبار هم ورته ویل شوې دي اظهار علی الغیب هم ورته ویل شوې دي اطلاع علی الغیب هم ورته ویل شوې علم هم ورته ویل شوې نو دا ټول اطلاقات یو دي فقط دومره چې ذاتي یې مه مني عباد و ته عطاء یې کړي او بل دا چې کلي تفصیلي مه مني جزي یې کړي یوه خبره شته کلي اجمالي په انواعو باندې ثابت دي نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته په دې کائنات کې چې څومره نوعې د مخلوقاتو وې ددې علم وه په یو وخت کې ورکړي شو روایت د دارمي شریف دي:

فعلمت ما في السموات وما في الارض.

وروسته به د احادیثو باب کې راشي په اسمان او ځمکه کې چې څه وه زما پرې علم راغې.

او دویم حدیث د مصنف عبد الرزاق دي په هغې کې راځي:

فعلمت ما بين المشرق والمغرب.

او روایت د مسلم دي:

ان الله زوى لي الارض فرأيت مشارقها ومغاربها.

مشرق مغرب د ځمکي مې ولیدل نو له دغو نه کلي اجمالي د انواعو ثابتیږي لکه اوس مونږ ته پته نشته چې په بحر کې څو نوعه ماهیان دي او څو نوعه مخلوق دي لیکن محمدي عربي ته دا علم وه چې دلته څومره نوعې مخلوق دي په ځنګل کې څومره نوعې د مخلوقاتو

Scanned by CamScanner

دي ته علم نه لري هغه ته دا علم وه خو يو علم كلي تفصيلي په فرد فرد جزي جزي دي دغه د بريلويانو عقيده ده بريلويان دا وايي چې د خداى تعالى د علم او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د علم هيڅ فرق نشته يو شان علم دي فقط فرق يې دي په ذاتيت كې او په عطايت كې چې دا عطايي دي او هغه ذاتي دي نور چې څومره په دې كائنات كې څه دي څومره اوني دي دا ونو څومره پاڼې دي څومره كاڼي دي څومره گياه گانې دي او څومره شگې دي ددې ټولو علم واي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته شته دي دا لكه محبت كې ورخوا ره شوي نو صراط مستقيم بين الافراط والتفريط دي نه به زياتي كوي نه به كمې كوي.

زمونږ دغه عقيده نه ده د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د ټولو انبياو علم په نسبت سره ما او تا ته عالم او مخلوق ته چې واخلي نو بيا خو ددې ټول مخلوق نه زيات دي خو بيا دا ټول علم را واخلي په مقابل د علم الله كې داسې وي لكه څنگه چې درياب كې يو څاڅكي وي علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د ټولو انبياو د ټولو انسانانو په مقابل د علم الله تعالى كې په اقليت او اكثريت كې داسې دي لكه هغه چې بحر شي او دا څاڅكي شي او امام رباني رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي دا مثال هم د الفاظو د تنگي د لاسه ورکول كيږي گنې واي دا تمثيل هم تام نه دي ځكه چې دغه څاڅكي خو ددې بحر نه دي كنه او علم د مخلوق حادث دي او علم د باري تعالى قديم دي دغه مثال څنگه وركوي واي دې نه اخوا د الفاظو تنگي ده مونږ الفاظ نه لرو خلك څنگه پوهه كړو چې دا علم د هغې علم څومره كم دي ؛ فقط تفصيل د قلت او كثرت دي نو علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د عام مخلوق د علم په مقابله كې هم دغومره ډير دي لكه چې هغه بحر واخلي د ټول مخلوق بيا څاڅكي وي دا هم صحيح ده.

خو بيرته علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مقابل د علم الله كې دومره كم دي نكه څاڅكي چې د بحر سره مثال لري نو داسې به نه وايي چې دا علم په كليت كې او په هر تفصيلي جزي جزي كې د خداى تعالى په شان علم دي خو فقط په عطا او ذات كې فرق لري نه عطائيت او ذاتيت كې.

يو فرق لري په كليت او جزئيت كې بل فرق لري چې علم ددې خواصو په بعضې مغيباتو دي كله ترې نفي شي نه وي ورسره او بل دا چې غير استمراري دي او علم د خداى تعالى استمراري دي هغه كلي تفصيلي دي دا كلي تفصيلي نه دي كومو ځايونو كې چې د

Scanned by CamScanner

کلي فهم کیږي هغه حمل دي په کلي اجمالي د انواعو باندې .

فعلمت ما في السموات والارض .

انواع د عالم کلاً ورته کشف شول .

رأيت مشارقها و مغاربها .

څمکه مشرق مغرب ټول يې وليدل .

هره مسئله کې يو خوا ډانګ دي بل خوا پړانګ دي څه دوي وخوري څه هغوي وخوري هغوي د نفس حقيقت نه انکار کوي د انبياء د شان او عظمت او د اولياء د کمال نه انکار کوي او دې اړخ ته چې دي دا څوانان په کې دومره ور خواږه شي چې خبره بل ځای ته ورسوي نو هغه عقيده هم بيا جوړه نه وي مينځ مينځ کې ځي خپله په لاره سمه بيا مومي او زمونږ د افغانستان علماء چې دې هغوي اوس کلک د ديوبند په مينه مست شوي دي چې بريلوي وويل چې علم شته دي نو فرق وکړه هغه به کلي وايي ته جزي ووايه کتبو را اخيستي کنه :

﴿ وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴾ .

زاد المسير في علم التفسير جلد ۴ صفحه ۲۳۸ بعضې چاپونو کې جلد ۵ صفحه ۱۱۸ دې ځای کې :

قال ابن عباس اعطاه علما من علم الغيب .

ورکړي وه خدای تعالی خضر عَلَيْهِ السَّلَام ته څه علم د غيب نه .

که نفسِ عبد ته د علم غيب ثبوت ته شرکي عقيده ووايي نو د :

﴿ وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴾ سره به څه کوي دا خو ټکراو لري دا علماً ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په علم غيب شرحه کړو نو دا دا ثابتوي چې مخلوق ته علم غيب شته :

لا يعلم من في السموات والارض الغيب الا الله .

نشته ټکراو جګړې جوړوي جګړه مه جوړوه تطبيق وکړه نفي د ذاتيت وکړه اثبات د عطاء وکړه نفي د کليت استغراقي وکړه اثبات د جزي وکړه او يا کلي اجمالي على النوع .

څو مره تفسيرونو په دې ځای کې له دې نه علم غيب اخيستي دي :

الوجيز للواحدي جلد ۱ صفحه ۴۷۶ :

Scanned by CamScanner

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ای اعطیناه علماً من علم الغیب .

تفسیر ابن کثیر جلد ۵ صفحه ۱۷۹ :

وکان رجلاً یعلم علم الغیب .

وه خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ یو سړی چې علم غیب یې لرلو .

تفسیر بیضاوي جلد ۳ صفحه ۵۱۰ جمهور په دې دي چې دا خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ وه په علماً باندې شرحه کوي :

مما یختص بنا ولا یعلم الا بتوفیقنا وهو علم الغیوب .

هغه علم ورکړو چې هغه خاص مونږ پورې دي هیڅوک د هغې علم نه لري مګر که مونږ توفیق ورکړو بیا وي هغه علم الغیوب دي دا مونږ ده ته ورکړې وه .

تفسیر قرطبي جلد ۱۱ صفحه ۱٦ :

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ای علم الغیب .

البرهان في علوم القرآن جلد ۴ صفحه ۲۹۰ :

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ای من العلم الخاص بنا وهو علم الغیب .

هغه علم چې مونږ پورې خاص دي چې علم غیب دي هغه مو ورکړې وه څه حصه د هغې.

تفسیر ابي السعود جلد ۵ صفحه ۲۳۴:

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا خاصاً لا یکتنه کنهه ولا یقادر قدره وهو علم الغیوب .

هغه علم چې د هغې کنهه چا ته پته نه لږیږي اندازه یې نه لږي چې هغه علم غیب دي.

تفسیر واحدي جلد ۲ صفحه ٦٦٧ :

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ای اعطیناه علماً من علم الغیب .

تفسیر بغوي جلد ۳ صفحه ۱۷۳:

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ای علم الباطن الهاما.

دا علم باطن وه په القاء الهام سره .

تفسیر فتح القدیر جلد ۳ صفحه ۲۹۹:

Scanned by CamScanner

وعلم الله سبحان من علم الغيب الذي استأثر به .
دا هغه علم د باري تعالى چې علم الغيب دي ده ته يې ترې نه څه ورکړه .
ابجد العلوم جلد ۲ صفحه ۴۶۹ د علم لدني تعريف کوي :
والعلم الذي تعلمه العبد من الله تعالى من غير واسط ملك .
دا هغه علم دي چې حاصل يې کړي بنده د خداى تعالى نه بغير د واسطې د فرشتې نه.
د بعضې علماو مشائخو نه مونږ ته طالبان حکايت کوي هغوي دا وايي دا علم غيب نه ده دا وحي وه نو دا علماء خو زمونږ مدرسين دي بخاري تدريس کوي د وحي اقسام طالبانو ته بيانوي چې وحي يو داځې بو اسطة جبرائيل ته نه ويل کيږي :
اوحينا الى ام موسى .
مور د موسى عَلَيْهِ السَّلَام ته مونږ وحي وکړه نو دا راتلل د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام خو نه وه دا وحي په معنى د الهام سره وه مونږ دې ته الهام وکړو په زړه کې .
﴿فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ﴾ .
زده يې کړي د رب خپل نه کلمې دا تلقي بالقلب وه کله وحي په تلقي د قلب سره وي کله په زړه کې القاء الهام وي کله منامات صادقه وي او کله فراست کشف وي کله په غوږونو لري خبره اوريدل وي کله په پوزو د نيکانو خکلي رائحه د بدن هغه بدبوي حس کول وي په څو طريقو لاري د دغې علم وي يو داځې واسطه د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام نه ده .
تفسير النسفي جلد ۲ صفحه ۲۲ :
وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا يعني الاخبار بالغيوب وقيل العلم اللدني ما حصل للعبد بطريق الالهام .
حاصل شي بنده ته بطريق الالهام سره .
تفسير روح المعاني جلد ۹ صفحه ۴۷۵ :
اى علما لا يكتنه كنهه ولا يقادر قدره وهو علم الغيوب .
د علم غيب اطلاق يې پرې کړې دي .

Scanned by CamScanner

تفسیر ابن کثیر جلد ۳ صفحه ۸۶ په دې کې د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما طویل حدیث د حضرت خضر علیه السلام واقعه کې ابن عباس رضي الله عنه خپلو شاګردانو ته شرح کوي د تفصیل د دې واقعې نو بیا فرمایي :

وکان رجلاً یعلم الغیب .

وه حضرت خضر علیه السلام چې علم یې لرلو په غیب باندې .

دویم دلیل د نص قرآني نه چې د بعضې مغیباتو علم خواصو ته وي .

سورة یوسف آیت : ۴۹ :

﴿ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ﴾ .

د دې نه مخکې کوم تعبیر چې شوې دې دا خوبې د خوب نه تعبیر ورکړې دې چې هغه چاغ غویان او خوار غویان چې هغه چاغ غویان راغله هغې نه کومه اشاره یې چې ورکړې ده بعضې علماء تعبیرات د خوبونو هم په غیبو کې یادوي هغې ته خو څه اشاره موجوده وي هغې اشارې نه دوي فهم وکړي د فراخ سالې اول کلونه او د قحطې داروستنې کلونه د غې ته علم غیب نه دې ویلې شوې چې د تعبیر کړې دې ځکه دې ته په هغه خوب کې اشاره موجوده وه هغه خوار غویان چې وه د غه کلونه د قحطې وه چاغ غویان چې وه کلونه د فراخ سالې وه چې ۷ کاله به باران په تاسو وي بیا به ۷ کاله قحطې راشي بیا چې څه تاسو کرلې وي هغه به ټول ختم شي لږ تُخم به پاتې شي هغه خوب دې نه اخوا ساکت دې اشاره نشته دې له ځان نه دا خبره ورته کوي :

﴿ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ﴾ .

بیا به راشي وروسته له هغې نه کال .

﴿فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ﴾

د خلکو دعاء به قبوله شي بیا به په هغوي باران وشي او بیا به په هغې کې نچوړوي دوي خپلو انګورو لره باغونه به بیرته بنه شي .

دې ځای باندې تفسیر ابن جریر طبري جلد ۷ صفحه ۲۳۲ ذکر کوي :

وهذا خبر من یوسف علیه السلام للقوم عما لم یکن في رؤیا ملکهم .

Scanned by CamScanner

دي نه اخوا يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کوم اخبار ورکړي دي د بادشاه په خوب کې دي ته اشاره نه وه.

ولكنه من علم الغيب الذي آتاه الله.

داد علم غيب وه هغه علم غيب چې خدای تعالی يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورکړي وه داد غيبو څه علم وه چې ده ته خدای تعالی ورکړې وه چې دومره وخت بعد به بيا داسې مسئله راځي.

دريم دليل: ﴿مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ﴾

احاطه نه شي کولې دا فرشته ګان او عباد.

﴿بِشَيْءٍ﴾ په څه شي.

﴿مِنْ عِلْمِهِ﴾ له علم الله نه چې علم غيب دي که احاطه کوي.

﴿إِلَّا بِمَا شَاءَ﴾ بعضې هغه چې د خالق خوښه وي نو که مطلق د نفي قايل شو نو د الا بما شاء استثناء به هيڅ فائده ونه کوي احاطه نه شي کولې په څه شي د علومو غيبي وو باندې چې انکار مه کوه بلکې نفي د ذاتي وکړه د کلي تفصيلي استغراقي وکړه.

﴿إِلَّا بِمَا شَاءَ﴾ مګر په بعضې هغه اشياو چې د خالق خوښه وي هغه ورکوي.

تفسير بغوي جلد ۱ صفحه ۳۴۳ ﴿إِلَّا بِمَا شَاءَ﴾ په دغه ځای باندې ذکر کوي:

يعني لا يحيطون بشيء من علم الغيب إلا بما شاء أن يطلعهم عليه.

مګر هغه چې د خالق څه خوښه شي په هغې اطلاع ورکړې ورته.

څلورم دليل: سورة نساء آيت: ۱۱۳:

﴿وَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾.

نازل کړي خدای تعالی په تا باندې کتاب او حکمت علم يې درکړي تا ته هغه.

﴿لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾ چې د ستا پرې علم نه وه هغه يې درکړي.

تفسير ابن جرير الطبري جلد ۷ صفحه ۴۸۰:

Scanned by CamScanner

﴿وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾ ددې معنی کوي :

من خبر الأولين والأخرين وما كان وما هو كائن.

علم يې درکړو هغه چې تا ته علم نه وه هغه خبر د اولينو د آخرينو د ماكان او كائن څه چې شوي وه تر دغه هغه علم يې درکړو .

فكل ذلك من فضل الله عليك يا محمد من خلقك .

دا يې په تا احسان وه نو دغي ته علم وويلې شو خبر د اولينو او آخرينو ته او د ماكان هغه علم يې ده ته ورکړو دې ځای نه بعضې بريلوي حضرات استدلال کوي چې ماكان كل الاشياء شو بس ذراتو ذراتو علم شو تعصب او ضد نه وي په کار او بې ځايه اعتراضات هم د خلکو راګرځول نه وي په کار دا زمونږ خپل فقهاء چې دعوی د علم غيب ته کفر وايي زه وروسته د هغوي عباراتو نه پيش کوم اوس خپلو فقهاء ته به څه محمل ګوري که نه به يې ګوري که ستا دا عقيده شي چې د بعضې مغيباتو علم دي هيڅ مشکل نشته او که ستا د کل مغيباتو علم وي د خپلو فقهاء عبارت ته هيڅ لاره نه شي جوړولې دغه رنګ نبي اکرم ﷺ يو طرف وايي :

تعرض عليّ اعمالكم .

عمل مو ما ته پيش کيږي .

ان كان خيراً فحمدت الله عزوجل وان كان شراً فاستغفرت لكم .

که نيک وي زه ثناء وايم که بد وي زه بخښنه ستا د پاره غواړم .

ددې نه معلوميږي چې د امت اعمالو نه خبريږي او هغه ورته پيش کيږي .

بلخوا روايت د بخاري شريف دي زه به د حوض کوثر په غاړه يمه صحابه به را روان وي هغه زمانه واپس کړي شي زه به آواز وکړمه :اصحابي اصحابي ، ما ته به وويلې شي :

لاتدري ما احدث بعدك . تا ته علم نشته تا ته پته نشته چې تا نه بعد دوي د څه احداث کړې وه .

Scanned by CamScanner

دا هغه جماعات دي چې مرتد شوې وه نو هلته لا تدري ورته وويلي شي تا ته علم نشته نو چې ته د جزي قائل شي چې بعضې اوقاتو کې شته بعضې کې نشته هيڅ اعتراض نشته دغلته نبي عليه السلام ثابتوي هلته ترې نفي شوې دي او که ته د کلي استغراقي قائل شي نو د لا تدري د پاره هيڅ جواب بيا نه لري په کلي استغراقي کې خو چې يو روايت کې نفي ثابته شوه بس د هغې د پاره ستا استغراق ختم شو ځکه ته خو د تفصيلي جزي په هر فرد قائل يې کنه نو چې قائل يې که يو ځای کې درته نفي ثابته کړه بيا درسره لاره نشته دي بيا به دعوی مني ورسره ځکه ستا استغراق خو يې ختم کړو.

دوي بيا څه وايي ما ته يو بريلوي راغلي وه وايي ستا ډيره بنه عقيده ده خو په علم غيب کې ته د کلي قائل نه يې ما ورته وويل د کلي خو څوک هم قائل نه دي د اسلافو کتابونه وګوره ته ما ته داسې يو عبارت پيش کړه چې نبي عليه السلام علم غيب کلي لري د يو چا قول پيش کړه هم يې زه منم علم لري په جميعو مغيباتو باندې دا پيش کړه ځکه دا خو چيرته چا نه دي را اخيستي ولې ځان نه داسې رايه ثابتوي بيا هغه ما ته وويل چې:

علم آدم الاسماء كلها.

کل راغې د کل اشياء علم ثابت شو چې ادم عليه السلام ته دي نو نبي عليه السلام ته په طريق اولی دي ما ورته وويل چې ګوره دا کل مفسرين يو څه پورې لړوي يا د اولاد هغه نومونه ياد وي يا د بعضې سامانونو نومونه ياد وي هغې پورې خاص کوي ذرات نه ياد وي، وايي دلته خو کل راغلې دي ظاهره کې ما ورته وويل زه به درته کل وښايم په نص قرآني کې او بيا به ته خپله هلته تاويل کوي د بلقيس باره کې راځي:

﴿أُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ﴾ ورکړې شوې وه بلقيس ته د هر شي نه.

نو کل خو راغې اوتيت هم راغې اوس څه معنی شوه چې علم غيبي څه ورکول شوې وه چې ددې د بادشاهي سره يې تعلق لرلو د هغې بادشاهي چې څه ته ضرورت وه هغه ټول اسباب دې سره وه.

نو آخره کې ما ته وايي ستا خپل نظر دي زما خپل نظر دي خو دا کوم ځای کې چې لا تدري ته پيش کوي يا نور دا ټول نسيان دي دا نبي عليه السلام نه دې وخت کې هير شوې وه لکه

Scanned by CamScanner

د يو سړي قرآن کريم ټول ياد وي او بيا ترې نه يو ځای له ياده ووځي نو داسې خو نه ده چې علم يې نشته علم يې شته خو له ياده يې وتلې ده دا کوم چې روايات د نفي دي نسيان باندې حمل دي .

نو ما ورته وويل په اسلافو کې داسې يو قول پيدا کړه چې هغه دا ستا قول کړې وي ستا قول خو نه شم منلې ته خو خصم يې داسې قول پيدا کړه چې يو چا ويلې وي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نفي د علم چيرته راغلي ده نو دا حمل ده په نسيان باندې بالکل ما ته مسلمه ده خو يو قول هم داسې نه شي پيدا کولې په اسلافو کې او دغه مونږ چې کوم د جزي اثبات کوو بعضې ثابتوو بعضې نفي کوو دا خو زه وخت په وخت تاسو ته تفاسير ښايم چې زمونږ اسلافو هم دغه تطبيقات کړي دي کوم ځايونو کې چې د علم نسبت راغې نو زمونږ حنفي علماء چې اخبار او انباء مني او علم ورته نه وايي هغوي دې هم په دې باندې ځان پوه کړي چې اطلاق د علم پرې ناروا نه دي مفسرينو کړې يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ ته يې علم غيب ثابت کړې دي خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته يې ثابت کړې دي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته په دغه ځای کې خبر د اولينو آخرينو ته علم ويل شوې دي .

دارنګې تفسير بغوي جلد ۲ صفحه ۲۸٦ بعضې چاپو جلد ۱ صفحه ۴۷۹ : ﴿وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾ دا وايي دې کې تاويلين دي من الأحكام يو قيد دا چې د احکامو علم درکړې شو دا معروف تاويل دي دلته .

دويم دا من علم الغيب وعلمك ما لم تكن تعلم ، علم الغيب هغه چې تا ته علم نه وه هغه درکولې شو چې علم غيب دي .

پنځم دليل : سورة الانعام آيت : ۷۵ :

﴿وَكَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ﴾

دارنګې مونږ وښودلې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عجائبات د ځمکو او اسمانونو دي د پاره چې شي د موقينينو نه .

تفسير القرطبي جلد ۷ صفحه ۲۳ يا جلد ۷ صفحه ۱۷ دلته تاسو هغه خپله نحوي قاعده متوجهې کړي :

Scanned by CamScanner

نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ.

باب د رؤیت کې چې کله متعدي مفعول واحد ته شي رؤیت بصري وي او چې کله متعدي مفعولینو ته شي نو دا رؤیت قلبي علمي وي دې ته د افعالو قلوبو رؤیت بیا وویلې شي نو دې ځای کې متعدي دي مفعولینو لره. نحن فاعل دي ابراهیم مفعول اول دي ملکوت مفعول ثاني ده او تعدیت د باب د رأیت چې مفعول ثاني نه بدون د حروف جر نه وشي بالذات وشي نو دا رؤیت قلبي وي په معنی د علم باندې.

دارنګې نُرِي مونږ علم ورکړو ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ته د عجائباتو د اسمانونو او د ځمکو نو دا علم شو ده لره دا رؤیت د سترګو نه دي بلکې دا علم دي دا رؤیت قلبي دي مکاشفه ده مکاشفه چې کوم رؤیت وي هغې وخت کې دوي ورته سترګې پټوي تاسو به صوفي کتلې وي چې د کشف دعوی کوي سترګې پټوي لکه خوب چې ګوري سترګې دې پټې وي دا لیدل وي خو زما او ستا خوبونه په شیشه د نفس کې وي دې کې د خل شیطاني ډیر زیات وي او خوبونه د انبیاو عَلَيْهِمُ السَّلَام او د خواصو دا په شیشه د قلب کې وي چې هغې ته تعبیر په مکاشفې کیږي او زما او ستا خوب ته تعبیر په کشف کیږي کشف کې د خل شیطاني وي او مکاشفه کې د خل شیطاني نه وي نفس د شیطان اډه ده په وجود کې شیطان تیار ناست وي هر قسم ته غلط غلط خوبونه په تا لیدلې شي هر چې قلب دي:

جاثم على قلب بني آدم.

د خواصو قلوب ذاکر وي چې هر کله ذاکر شي:

اذا ذكر خنث. شیطان ترې وتښتي چې وتښتي هلته چې څه ولیدل شول بیا هلته دخل شیطاني نه وي نو دا حالات ده لیدلي وه نو قرطبي صاحب فرمایي په مذکوره صفحه:

أراد به ما في السماوات من عبادة الملائكة والعجائب وما في الارض من عصيان بني آدم.

اسمان کې عبادت د ملائکو او عجائبات یې ولیدل او علم یې پرې راغي په ځمکه کې عصیان د بني آدم وه دغه وخت کې چې دا کشف ورکړې شو تمامه دنیا کې چې څوک په زنا او لواطت اخته وه په هره ګناه ده ولیدل یو دم دا ټول ورته کشف شول.

فكان يدعوا على من يراه يعصي فيهلكه الله.

Scanned by CamScanner

چا به چې ګناه ګوله ده به ولیده نو ښیري به يې ورته وکړي هغه به هلاک شو .

فأوحى الله إليه يا إبراهيم أمسك عن عبادي .

وحي ورته وشوه ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ بند کړه د ښیرو ژبان دي زما د عبادو نه .

أما علمت أن من أسمائي الصبور .

زما په اسماو کې صبور راغلې دي زه صبر کوم .

دوي لره دغه معنی چې ذکر شوه مروي ده د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مرفوع حدیث کې د غه معنی پرته ده .

چا وویل معنی یې داده :

کشف الله له عن السماوات والارض .

اسمان او د ځمکي نه ورته څه کشف شول .

حتى العرش واسفل الارضين .

عرش او ۷ ځمکي ښکته دا ټول ورته کشف شول .

وروي ابن جريج عن القاسم عن ابراهيم النخعي قال : فرجت له السماوات السبع فنظر اليهن حتى انتهى إلى العرش وفرجت له الأرضون فنظر اليهن ورأى مكانه في الجنة فذلك قول و آتيناه أجره في الدنيا .

دغه وه چې دنیا نه یې د جنت مقام ولیدو .

دا آیت کریمه د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د علم ثبوت کوي چې هغه ته د اسمان او ځمکي د عجائباتو علم ورکړې شو .

شپږم دلیل : سورة یوسف آیت : ۳۷ ، دواړه قیدیان ورته راغلل خوبونه یې لیدلي وه :

﴿إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ﴾

دي اوس هغوي ته خپل یو کمال ښايي چې زه د غیبو داسې یو علم لرمه نو ستاد خوبونو په تعبیر څنګه نه پوهیږمه .

Scanned by CamScanner

نو اول ورته خپل کمال ښايي او کمال نه بعد ورته دي کمال کې هغوي ځان ته متوجه کړل هغې نه بعد ورته خپله عقيده ښايي هغې نه بعد ددوي په عقيده رد کوي دوي مشرکين وه دعوت د خير ورکوي او بيا په آخره کې ددوي د خوب تعبير ذکر کوي وفرمائيل يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ:

﴿لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ﴾ نه به راځي تاسو ته دوه دي.

﴿تُرْزَقَانِهِ﴾ هسې دوه دي چې درکولې شي تاسو له هغه.

﴿إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ﴾ مګر خبر درکومه تاسو ته په تعبير د هغې باندې.

﴿قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَا﴾ مخکې د راتلو د طعام نه تاسو ته سهر کې خبر درکوم چې غرمه طعام داسې را روان دي غرمه به خبر درکوم چې ماښام طعام داسې را روان دي دا ټول اخبار د غيب نه دي.

يو ميلمه راغلي وه زما هغه ته مې دا ځاى پيش کړو وايي دا خو اخبار دي او اخبار خو زه منم ما ورته وويل لږ صبر خو وکړه:

﴿ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي﴾ دا هغه کمال دي چې ما ته زما رب علم راکړي دي.

ګوره اخبار هم ورته وويلې شو علم هم ورته وويلې شو.

﴿إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ﴾ اوس عقيده ورته ښائي.

تفسير قرطبي جلد ۹ صفحه ۱۹۱ بعضې چاپونو کې صفحه ۱۲۵ ده دا ليکي:

وكان هذا من علم الغيب خُص به يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ.

دغه څه چې دلته بيان شول دا علم غيب وه چې خاص شو په دې سره يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ ده ته ورکړې شو.

نو خص به يوسف دا معنى نه چې بل ته جائز نه دي **خص به يوسف في ذلك الوقت** دغه وخت کې ده ته ورکړې شو.

۷- نمبر: سورة يوسف آيت نمبر: ۹۶ آيت نمبر ۸۶ کې حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ يوه خبره کړې وه:

Scanned by CamScanner

﴿قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾
دا مخکې ذکر شوې وه دا دعوی ده کړې وه د بچو مخکې زه علم لرم چې دې دا علم ماته من الله عطائي شو هغه لا تعلمون چې تاسو نه لري.
﴿فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا﴾ کله چې راغې بشير قميص يې د يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخ واچوه بينا شو.
﴿قَالَ﴾ ده وفرمايل:
﴿أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾.
دا هغې ته اشاره وه چې په آيت نمبر ٨٦ کې ده دا دعوی کړې وه نه مې وه درته ويلې زه علم لرم من الله هغه چې تاسو يې نه لري.
نو ﴿إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ﴾ يې ويلې وه دعوی يې کړې وه أَعْلَمُ هغه صادقه شوه د غه د غيبو خبره د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ته علم په نص قرآني کې وويلې شو چې دا زه علم لرم من الله.

ددې نه بعد بعضې هغه اطلاقات چې اظهار على الغيب اطلاع على الغيب انبأ عن الغيب تعبيرونه ترې شوې علم غيب جزي عطائي همدغه معبر دي په تعبير د اطلاع على الغيب سره، انباء عن الغيب سره اظهار على الغيب سره اخبار على الغيب سره دا ټول اطلاقات يو شان دي خو اطلاق د علم هم پرې کيدې شي.
سورة آل عمران آيت ۴۹، حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دعوى کوي:
﴿وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾
خبر به درکومه هغه چې تاسو يې خورې هغه چې ذخيره کوې يې په کوټو کې داد غيبو خبره وه دې نه تعبير په انباء سره وشو همدغه انباء په نورو نصوصو مونږ ثابته کړه چې علم ورته وويلې شي ځکه اخبار او انباء سبق علم غواړي چې علم نه وي کله اخبار کيږي.

Scanned by CamScanner

حکایت :

ما ته دوه ملایان یو وخت کې راغلي وه نو هغوي دا وویل چې مونږ انباء او اطلاع منو خو مونږ ورته علم نه شو ویلې بیا ما ورته دا نصوص پیش کړه نو هغوي ما ته وویل چې تاسو دې علم غیب ته عطائي وایې ما ورته وویل هاو داسې منطقیان شان یې ځان ګڼلو وایي عطاء خو دې ته ویلې شي چې سلب الشيء عن النفس واعطاءه الی الغیر ، ځان نه شي سلب کول او بل ته ورکول چې عطائي شو نو معنی دا چې خدای تعالی د ځان نه سلب کړي دې او بل ته یې ورکړې دې .

نو ما هغوي ته ددې خبرې په دوه قسمه جواب وکړو یو په نقض باندې او دویم مې صحیح محمل ددې ورته وښودلو چې په مختصر کې د عطاء یو تعریف به په حاشیه کې وي چې سلب الشيء عن النفس واعطاءه الی الغیر خو عطاء په دوه قسمه ده یو عطاء ده په ذوي الاعیانو کې بل عطاء ده په اعراضو اوصافو کې عطاء په اعیانو کې همدغه تعریف دې چې سلب د شيء دې د نفس نه او اعطاء ده غیر لره مثال دا قلم دې دا پانړه ده یا موبائل دې مثال په طور داد اعیانو نه دې عین دې دا چې ته چا ته عطاء کوي نو نه شي کیدلې چې تا ته دې هم پاتې وي هغه سره دې هم وي خپله تا نه لاړ هغه ته ورکول شو نو سلب الشيء عن النفس واعطاءه الی الغیر داد عطاء په اعیانو کې تعریف دې .

هر چې د عطاء تعریف دې په اعراضو اوصافو کې هغلته دا تعریف نه صحیح کیږي چې سلب د ځان اعطاء غیر لره ده یو مسئلې علم تا ته درکوم نو زه په هغې کې معلم ستا یمه مثال په طور تا ته مې چې درکړو نو زما علم خو لا پسې قوي شو کنه له ما نه خو علم سلب نه شو نو دا خو مسئله د علم ده دا اعراضو نه ده دا اوصافو نه ده خالق چې چا ته ورکړو نو دا معنی نه شوه چې ځان نه یې سلب کړو بل له یې ورکړو .

دا هغه تحقیقي جواب د مختصر دا عبارت دې چې دوي د عطاء تعریف دغه کوي خو دوي دا وویل چې هلته خو دا فرق په کې نشته دې چې دا عین دې دا عرض دې ما ورته وویل چې نشته زه به نقض وکړمه ته په علم ظاهر کې عالم یې او که نه یې وایي چې یمه ما ورته وویل دا علم چا درکړي وایې خالق راکړې دې ما ورته وویل ستا دا نقض هلته هم وارد دې

Scanned by CamScanner

چې ځان نه يې سلب کړي تا ته يې درکړې دي چې څه جواب هغه ځای کې ستا وي همغه جواب په علم غيب کې زما ده.

دواړو نه چې لاره ورکه شوه نو دا يو په کې لږ زيات منطقي شان وه وايي زه خطاء شوم ده دا علم ظاهر مونږ ته خالق نه دي راکړي چې انکار يې وکړو ما ورته وويل چې بنه خالق نه دي درکړې وايي نه ما ورته وويل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي:

انما انا قاسم والله يعطي.

زه قاسم يمه خدای تعالی يې ورکوي.

دا څه شي يادوي همدغه علم يادوي کنه علمين يادوي هغه د ورکولو والا دي قسمت يې زه کومه نو په دغه تعريف باندې کله اعتراض درباندې ييا ونه کړي چې عطاء خو دې ته وايي چې سلب د شي نفس نه واعطاءه الى الغير داسې يو عجيب قوم دي چې ته نصوص پيش کوه دلائل پيش کوه او دوي به يو شي پسې کلک اونښلي تا به ايات پيش کړې وي.

اوس د مختصر د حاشيې په دې عبارت د علمناه من لدنا علما د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د علم الغيب مقابله چيرته کيږي دا کوم انصاف دي ييا د هغې يو بنه محمل پيدا کړه کنه هغه خو بنه علماء وه د هغوي عبارت ته يو بنائسته محمل پيدا کړه چې دا عطاءده په عين کې نه به عرض کې بس صرف ضد او عناد دی دا کوم علماء چې وايي دې وخت کې مناظرې ناروا دي سمه خبره کوي ځکه مناظره خو د احقاق الحق او ابطال الباطل لپاره وي چې جانبينو ته يو دليل نه وي معلوم بل يې پيش کړي هغه يې تسليم کړي اوس جګړه ده ته دلايل وايه هغه به مخکې نه ستا دليل د ياره ستا خبره خو دسره نه مني او نه حق مني ولو که دا حق په نصوصو اياتونو ثابت وي خو دې وايي چې زه په څه شکل دده د دلائلو جواب پيدا کړم.

نهم دليل: دارنګې سورة آل عمران آيت ۱۷۹:

﴿وَمَا كَانَ اللهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ﴾ نه دي خدای تعالی چې اطلاع درکړي تاسو ټولو ته په غيبو باندې.

نفي راغله بعضې خلکو غوندې نفي کلي به کوي چې بالکل نه ورکوي لږ هم نه ورکوي چا ته هم نه ورکوي داسې نه ده.

Scanned by CamScanner

﴿وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِن رُّسُلِهِ مَن يَشَاءُ﴾ ليکن خدای تعالی غوره کوي د رُسلو نه هغه چې خوښه يې وي.

﴿فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ﴾

نو دا ثابتوي چې کل ته دا علم نه ورکوي که ورکوي بعضې خلکو ته يې ورکوي او دا ثابتوي چې غيب کلي تفصيلي نه ورکوي، که ورکوي په بعضې مغيباتو کې يې ورکوي.

لسم دليل: دا رنګې سورة جن آيت نمبر :۲۶:

﴿عَالِمُ الْغَيْبِ﴾ اِنه په غيبو عالم دي.

﴿فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا﴾ غلبه نه ورکوي خدای تعالی په غيبو علم باندې يو کس لره.

نکره في سياق النفي راغله يوه ته هم نه ورکوي که استثناء نه واي بس دلته بيا مسئله جوړيدله کوم ځای کې چې نفي راغلي ده غيب معرف راغلي ده لا يعلم غيباً دا سې الفاظ نشته چې نکره في سياق نفي راشي چې ييخي ديو غيب علم هم نشته غيب استغراقي کلي يادوي الف لام په کې استغراقي که دې ځای کې نفي راغله مطلقاً.

﴿فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا﴾ يو ته غلبه نه ورکوي.

که اوس دلته استثناء موجوده نه واي بيا مسئله ګرانه وه بيا به هيڅا ته هم د علم نه قائل کيدې خپله استثناء موجوده ده:

﴿إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ﴾ چې غوره کړې ديو رُسل نه هغه ته څه ورکوي بيا اظهار على الغيب دې نه تعبير په انباء هم کيدې شي.

يولسم دليل: سورة آل عمران آيت نمبر: ۴۴، د مريمې بي بي او د ذکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ د حالاتو بيان يې کړې دي بيا فرمايي:

﴿ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ﴾ دا د اخبار د غيب نه.

﴿نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ﴾ ته نه وې له دوي سره هغه وخت.

﴿يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ﴾ تاسو وي نه هلته.

Scanned by CamScanner

دا ټول نصوص یا په درجه د انباء کې وي یا د هغې نه تعبیر په اطلاع یا د هغې نه تعبیر په اظهار او یا په علم سره تعبیر ورنه ترې شوې دي.

دغه یولس (۱۱) نصوص دلائل ددې دي چې مخلوق خواصو ته څه حصه ددې شته دي هغه ایاتونه چې مخکې ما پیش کړل دلیل ددې دي چې نشته دي اوس تکرار او مه کوه تطبیق خودبخود دې ته جوړیږي چې نفي د الغیب معرف استغراقي راغله کل غیب مه منه او اثبات د بعضې مغیباتو وکړه او نفي د ذاتي وکړه اثبات د عطاء وکړه چې علم من الله یا من لدنا دا ټول تصریحات ددې دي چې عطائي دي ذاتي نه دي.

دلته دوه مستند روایات زه ذکر کوم چې د چا هم دې مسئله کې شک وي دا دې وګوري او انتهائي دې وویریږي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په علم دې اعتراض نه کوي اولین اعتراض د رحمة للعالمین په علم غیب باندې داد مدینې منورې منافقانو کړې دي.

تفسیر بغوي جلد ۲ صفحه ۱۴۰ د ﴿لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ ددې آیت کریمه شرحه کې:

وقال السدي رَحِمَهُ اللهُ قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عرضت علي امتي في صورها في الطين. پیش کړې شو زما امت ما ته په خپلو صورتونو کې په یوه خټه کې دیوال کې مراد د طین نه دیوال دي.

كما عُرِضت على آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ. لکه آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته چې پیش شوې وه دغه شان ټول امت ما ته هم پیش شو.

وأعلمتُ. علم راکړې شو ما ته د:

من يؤمن بي ومن يكفر بي. زما امت کې چې څوک په ما کفر کوي او څوک په ما ایمان راوړي ددې ټولو علم راکړې شو، ګوره تعبیر د علم کوي.

فبلغ ذلك المنافقين. وه رسید له دا خبره منافقینو ته.

فقالوا استهزاءً. قول یې وکړو د ټوکو او مسخرو په نیت.

Scanned by CamScanner

زعم محمد أنه يعلم من يؤمن به ومن يكفر. ګمان نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا دې کوي چې من يؤمن به ومن يكفر به باندې دې علم لري دا هغه يادوي.

من لم يخلق بعد. چې تر اوسه پيدا نه دي.

ونحن معه وما يعرفنا. مونږ ورسره يو مونږ نه پيژني قيامته پورې چې امت را روان دي دعوى کوي چې مؤمن او کافر باندې زه علم لرم.

اعتراض منافقانو وکړو:

فبلغ ذلك رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دا پيغام لاړو چې منافقان داسې خبره کوي.

فقام على المنبر. خبره پيچيده وه او ضروري وه منبر ته پرې پورته شو غتهه اجتماع يې جوړه کړه.

فحمد الله واثنى عليه. د خداى حمد او ثناء يې وويله.

ثم قال ما بال اقوام طعنوا في علمي. څه چل دې قوم لره چې زما په علم طعنې لګوي.

دا علم د غيبو وه قيامته پورې مؤمن د کافر نه بيلول دا علم د غيبو دي او تعبير هم په علم سره کيږي او بيا وايي اعتراض هم زما په علم کوي څه چل دي قومونو لره طعنه لړوي زما په علم.

لا تسألوني عن شيء. پوښتنه مه کوي زما نه باره د څه شي کې هغه.

فيما بينكم وبين الساعة. ستاسو نه تر قيامته پورې.

الا أنبأتكم به. مګر خبر به درکومه.

څنګه دعوى يې وکړه ده مبارک به ډيره عاجزي کوله دا اظهارات يې نه کول خو وه ورسره څه علم ددې چې کله منافقينو اعتراض وکړو نو ورېده نن نه قيامته پورې چې د څه خبرې پوښتنه کوي وکړي ـ به خبر درکوم.

فقام عبد الله بن حذافة السهمي فقال من ابي يا رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)؟. پلار مې څوک دي.

Scanned by CamScanner

قال حذافة . عمر فاروق رضي الله عنه پوه شو چې نبي عليه السلام په جلال دي .
دا همغه روايت دي چې هغه کوم روايت کې راځي چې ما يو خوا بل خوا صحابه وو ته وکتل په څادرونو کې سرونه ټيټ کړي وه ژړل يې د نبي عليه السلام هغه خفګان باندې خفه وه عمر فاروق رضي الله عنه پاڅيده .
بل روايت کې راځي چې راغي د التحيات په شکل ورته کيناستلو يا و دريدلو .
فقال يا رسول الله صلى الله عليه وسلم رضينا بالله رباً و بالاسلام ديناً و بالقرآن اماماً وبك نبياً فاعف عنا عفا الله عنك .
مونږ ته عفوه وکړه خداى تعالى به تا ته او ستا امت ته عفوه وکړي .
فقال النبي صلى الله عليه وسلم فهل انتم منتهون ؟
تاسو منعه شوې طعنه به زما په علم بيا نه لګوي خلکو وويل چې نه به لګوو .
ثم نزل عن المنبر . بيا د منبر نه راکوز شو .
فانزل الله تعالى هذه الآيات : ﴿لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾.
ددې شان نزول کې امام بغوي رحمه الله دا را اخيستي دي دا ډيرو نورو تفاسيرو هم را اخيستي دي نو چې کوم څوک هم د نبي عليه السلام په علم کې شک لري دا روايت دې سترګو ته ونيسي دده شکوک به ختم شي او داد منافقانو طعنه وه په علم د محمدي عربي باندې هسې نه چې په نفاق کې راشي او نبي عليه السلام پرې هغه وخت خفه شوي دي که اوس هم پرې څوک طعنه لږوي نو په مرقد کې به له دغه امتي نه ناراضه او خفه شي .
بعضې حضراتو د بريلويانو نه چې دلته افراط نه کولې نو مونږ به دغه الفاظ هم دلته نه ؤ ويلي چې دومره لري او دومره نه لري دا هم ماته سوء ادب ښکاريږي دا مسئله بالکل زير بحث ګرځول نه دي په کار زمونږ لا څه علم دي چې د نبي عليه السلام د علم به مونږ اندازي ولږوو وروسته به تاسو ته روايات راشي او مخکې هم تاسو ته ما اشاره وکړه په نسبت د مخلوق د علم به بيا علم د نبي عليه السلام دومره زيات ګڼي لکه هغه چې بحر وي او د ټول مخلوق علم ورته څاڅکي وي هغه به دومره زيات ګڼي خو داسې به نه وايې چې دا مقابل د علم الله کې مساوي دي نه د هغې مقابل کې بيا ډير قليل دي .

Scanned by CamScanner

دويمې واقعې ته ګورئ چې اعتراض په دې علم چا کړي دې کتاب المغازي د واقدي جلد ۱ صفحه ۱۰۹: تبوک ته نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ را روان دې يو منزل کې شپه راغله صبا شو اوښان ځريدلي ورکه شوه اوښه د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ.

فضلت ناقة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ القصواء. فخرج اصحابه في طلبها. صحابه کرام د هغې په طلب کې ګرځيدي.

وعند رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمارة بن حزم. د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ سره عمارة بن حزم موجود دي.

عقبي بدري. عقبه اولى يا ثاني کې شرکت کړې وه.

قتل يوم اليمامة شهيداً وكان في رحله. دده په ډله کې زيد بن اللصيت وه دا ډلي ډلي او کورني وي.

احد بني قينقاع. يو رجل د بني قينقاع نه وه.

كان يهودياً. اصلاً يهودي وه.

فأسلم. اسلام يې راوړو.

فنافق. منافق شو.

وكان فيه خبث اليهود وغشهم. د يهودو هغه بدي په کې وه.

وكان مظاهراً لأهل النفاق. دي مظاهر د اهل نفاقو نه وه.

فقال زيد وهو في رحلِ عمارة عند النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. په دې وخت کې عمارة بن حزم موجود نه وه هغه د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ سره وو هلته ځان ته ډلي دي خيمي يې وهلې دي او په دې ډله کې زيد بن اللصيت منافق موجود دي دې زيد بن اللصيت دا خبره وکړه:

اليس محمد يزعم أنه نبي ويخبركم عن خبر السماء. آيا دعوى نه کوي چې پيغمبر دي او د اسمان خبر درکوي.

Scanned by CamScanner

وهو لا يدري اين ناقته . پوهيږي نه چې اوښه يې چيرته ده ګوري دا اعتراض په علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې منافق وکړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ جلال کې راغلو .

فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . چا ورته ووېل :

ان منافقاً يقول . منافق وايي .

إن محمداً يزعم أنه نبي وأنه يخبركم بأمر السماء ولا يدري اين ناقته واني والله ما أعلم إلا ما علمني الله وقد دلني عليها .

زه قسم بالله علم ذاتي نه لرم که څه دي ما سره ما ته زما رب علم راکړي دي ګوري بيرته يې استثناء وکړه ذاتي نه لرم که دي ما ته زما رب علم راکړي .

وقد دلني عليها . او ښه باندې ما ته ښودنه کړې ده چې چيرته ده .

وهي في الوادي في شعب كذا وكذا الشعب اشار لهم اليه . اشاره يې هم ورته وکړه هغه فلاني ناو کې ده .

حبستها شجرة بزمامها . ددې په غاړه يا پوزه کې چې کوم پړي دي هغه د اونې په جړړه کې نښتي دي هغه ما ته را روانه ده خو دې اونې حصاره کړې ده .

فانطلقوا حتى تأتوا بها . امر يې وکړو لاړ شئ را يې ولئ .

فذهبوا فجاءوا بها . ورغله راپې وستله همغه شان وه چې کوم نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې اخبار کړې وه .

دا واقعه او ددغې منافق دا اعتراض دلائل النبوة للبيهقي را اخيستي جلد ۵ صفحه ۲۳۲ امام بيهقي يې په دليل د نبوة کې را اخلي دا علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دليل د نبوت ګرځوي منکر يې د نبوت منکر دي داد نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د شان منکر دي .

فتح الباري جلد ۱۳ صفحه ۳۶۴ ، أسد الغابة د ابن اثير جلد ۱ صفحه ۲۰۶ ، البداية والنهاية جلد ۳ صفحه ۲۹۴ ، الكامل في التاريخ د ابن اثير جلد ۱ صفحه ۳۴۲ ، الوافي بالوفيات جلد ۴ صفحه ۶۸ ، تاريخ ابن خلدون جلد ۲ صفحه ۵۰ ، تاريخ الامم والملوک جلد

Scanned by CamScanner

۲ صفحه ۱۸۴، تاریخ الاسلام للامام الذهبي جلد ۲ صفحه ۶۴۱، دې ټولو کتابونو دا حواله را اخیستي چې دې منافق دا اعتراض کړي دلته لفظ د علم دي : والله ما اعلم الا ما علمني الله.

دریم روایت سنن الدارمي ذکر کړي جلد ۲ صفحه ۱۷۰ باب في رؤية الرب تبارك و تعالى في النوم. په خوب کې د خدای تعالی دیدار کیدې شي او که نه؟

اخبرنا محمد بن المبارك حدثني ابوالوليد حدثني ابن جابر عن خالد بن اللجلاج وسأله مكحول ان يحدثه قال سمعت عبد الرحمن بن عائش يقول سمعت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول رأيت ربي في أحسن صورة.

داد متشابهاتو نه دي.

قال فيم يختصم الملأ الأعلى. ما ته یې وفرمایل ملأ الاعلی په څه کې جګړه کوي.

فقلت انت اعلم يا رب. ما ورته وویل ای ربه تا ته علم دي.

قال فوضع كفه بين كتفي. کف بلا کیف یې د دواړو اوږو مینځ زما کې وضعه کړو.

فوجدت بردها بين ثديي. د هغې یخوالې مې د سینې مینځ کې بیاموندو.

فعلمت ما في السموات والارض. علم مې راغې په هغه اشیاء چې په اسمانونو کې وه او په هغو شیانو چې ځمکه کې وه اسمان او ځمکه کې چې څه وه په هغې مې علم راغې.

له دغه ځای نه د کلي تفصیل استدلال بعضې حضرات کوي خو دا هغه کلي اجمالي دي على الانواع په ټولو انواعو د عالم باندې ده ته علم ورکړې شو دې نه وروسته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تلاوت کړو دا ايات:

﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾.

دارنګې مونږ بنودلي وه ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عجائبات د اسمانو او د ځمکو.

دا ايات یې ولې پیش کړو د استشهاد لپاره چې ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د اسمان او ځمکې د عجائبو علم خدای تعالی ورکړې وه بعیده یې ګڼي انکار ترې کولې شي نه یې شي کولې نو دغه شان زما په علم کې ولې شک کوي چې هغه ته یې ورکړو خو ما ته یې هم دا علم راکړو دا

Scanned by CamScanner

ایات یې د دلیل د پاره پیش کړې دي .

د مسند ابي یعلي په روایت کې راځي جلد ۳ صفحه ۱۰۲ :

فعلمتُ ما بین المشرق والمغرب . د مشرق او مغرب په مینځ کې چې څه وه په هغې مې علم راغې .

فقال . بیا یې ما ته وفرمایل :

یا محمد فیم یختصم الملأ الاعلی ؟ قلت في الکفارات . کفارات څه شي دي .

المشي علی الاقدام في الجمعات واسباغ الوضوء في المکروهات وانتظار الصلواة بعد الصلواة الی الصلواة فمن حافظ علیهن عاش بخیر ومات بخیر وکان من ذنوبه کیوم ولدته امه .

ځکړه په دې باندې کوي چې کوم سړي د جمعې لمونځ ته قدمونه وړي د دې قدم چې کوم اجر دي ملأ اعلی چې کمې فرشتې دي ځکړه یې وي یوه وایي دا زه د قبول ځای ته وړم بله وایي زه یې وړمه او دارنګې اسباغ الوضوء في المکروهات په سخت ژمي کې هغه طولاني اودس کوي چې سم پوره اودس وشي او کوم ځای پاتې نه شي او انتظار د **صلواة بعد الصلواة الی الصلواة** د دې چې کوم اجر دي یو مونځ نه بعد بل مونځ ته سړي انتظار کوي :

فمن حافظ علیهن عاش بخیر ومات بخیر . په دې درې کارونو چې څوک محافظت وکړي او همیش یې وکړي .

عاش بخیر ومات بخیر وکان من ذنوبه کیوم ولدته امه .

داسې به پاک شي نو دغه وخت پورې **فیم یختصم الملأ الاعلی** . علم ورته نه وه چې د هغوي فرشتو په څه شي کې ځکړه ده او چې کله دغه علم ورکړې شو نو بیا ترې تپوس وشو نو متصل علم ورته پیدا شو بیا یې د هغې اظهار وکړو .

دا حدیث تفسیر ابن جریر د طبري جلد ۷ صفحه ۲۴۷ کې را اخیستي ، ابن کثیر جلد ۴ صفحه ۲۵۱ ، مجمع الزوائد جلد ۷ صفحه ۱۷۶ ، مسند احمد جلد ۱ صفحه ۳۶۸ ، مسند شامیین جلد صفحه ۳۴۵ ، مسند ابي یعلی جلد ۴ صفحه ۴۷۵ ، الاحاد و المثاني جلد ۵ صفحه ۴۹ ، مسند عبد ابن حمید جلد ۱ صفحه ۲۲۸ ، تمهید د ابن عبد البر جلد ۲۴ صفحه

Scanned by CamScanner

۳۲۳، تذکرة الحفاظ جلد ۱ صفحه ۳۸۷، طبقاة المحدثین باصبهان جلد ۳ صفحه ۴۶۳،
معجم الصحابة جلد ۲ صفحه ۱۰۲ دي، ټولو کتبو دا حدیث په مذکورو حوالو ذکر کړې دي.

ددې روایت حوالې مې ځکه زیاتي ذکر کړي چې دا زمونږ په دعوی دال دي چې:

فعلمت ما في السموات والارض.

لفظ د علم استعمال شوې اسمان او ځمکه کې چې څه وه زما پرې علم راغې.

دارنګې صحیح مسلم معرب بیروت چاپ جلد ۷ صفحه ۹۴ پاکستان چاپ جلد ۲
صفحه ۲۶۳ جوړېږي خپل سند سره د حضرت انس ابن مالک رضی الله عنه روایت دي:

ان رسول الله صلی الله علیه وسلم خرج حين زاغت الشمس. زوال نه بعد.

فصلی لهم صلواة الظهر فلما سلم قام على المنبر فذكر الساعة ذكر ان قبلها اموراً عظاماً ثم

قال من احب ان يسألني عن شيء فليسألني عنه.

د چا چې خوښه وي ما نه څه تپوس کوي ودې کړي.

فوالله لا تسألونني عن شيء الا أخبرتكم به ما دمتُ في مقامي هذا.

قسم بالله تپوس به نه کوي مګر خبر به درکوم ترڅو چې په دغه ځای باندې یم.

دا روایت دلائل النبوة د اخبار عن الغیب کې محدثین پیش کوي نبي اکرم صلی الله علیه وسلم
ته دغه وخت کې تر قیامته پورې اشیاء کشف شول او چیلنج يې ورکړو چې څوک څه قسم
تپوس نه ما نه کوي نو وي کړي.

دارنګې صحیح مسلم بیروت چاپ جلد ۵ صفحه ۱۴۵ د پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه
۸۵ سره موافقت لري دغه علم چې دوي ته ورکول کیږي کله په تلقي بالقلب سره وي کله
منامات وي کله فراست وي کله په زړه کې القاء الهام وي کله کشف د سترګو وي کله د
غوږونو د سماع د بعید نه وي کله د لاس په مس سره وي لاس ورورې پته وزته ولږیږي دا
کیږي دا تر خاصې تر انبیاء نه وي چې هغوي پورې خاص وي خواصو عبادو د اولیاء ته اوس
هم کیږي.

Scanned by CamScanner

زمونږ د والد ګرامي کورني واقعه :

زمونږ والد ګرامي ته دا فراست او کشف دي چې هغه په لمس د يد سره هغه وايي زه نه پوهيږمه خو چې د چا لاس راکړو او دري خبرې د خولې نه رابهر شوې ۲۴ ساعتو کې چې ترې څه ګناه شوې وي هغه زما مخې ته راشي چې دې سړي دا ګناه کړې ده دې وخت کې هم دا خلک شته دي خو دا ټول هغه څه دي چې د اولياء د تصوف د خلکو سره ملاويږي دا په کافيه، جامي او منطقو کې نشته چې ته يې هلته لټوې .

حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

غزا نبي من الانبياء . يو پيغمبر عليه السلام غزا ته روان دې .

فقال: وي فرمايل، غالباً سليمان عليه السلام وه .

لقومه . قوم خپل ته .

لا يتبعني رجل . ما پسې به نه راځئ هغه سړی .

قد ملك بضع امرأة وهو يريد ان يبني بها . مالک د بُضع ذ امرء دي واده يې لا نه دي کړي کوژدن شوې ده د بنا اراده لري .

ولما يبن . تر اوسه پورې بناء نه وي کړي يعنې چې کوژدن يې کړې وي واده يې نه وي کړي هغه دې ما پسې نه راځي دا ولې جهاد ته بو تلل يې ناروا نه وي دا ډير بې غيرته وي چا چې کوژدن نه وي کړي دا په غيرت کې اول نمبر دي دويم هغه څوک چې واده يې کړې وي او څه وخت يې وتلې وي .

دا کوژدن يې چې شوې وي او واده يې نه وي کړي دا ګوري جهاد ته بو نه ځي دا تجربه مونږ کړي ده د طالبانو امارت کې مونږ ابتدائي ايامو کې چهار آسياب ته تللي وو مونږ سره هم په کې يو تللي وه نو چې کله مونږ تعارض ته تللو نو دومره سوالونه يې ما ته کړي دي وايي مولوي صاحب د خدای لحاظ وکړه ګوره کوژدن مې کړي او واده مې نه دي کړي نو هغه کال زما د لوي دورې وه نو دا حديث ما ته راغې ما وويل دا وګوره پيغمبر عليه السلام فرمايي چې چا کوژدن کړې وي واده يې نه وي کړې ما پسې دې نه راځي هغه نه شي کولې دا

Scanned by CamScanner

ځوانان چې واده یې نه وي کړي داد امر تابع وي چې څه دي ورته وویل همغسې کوي ځکه دوي سره دا سوچ نه وي چې ما نه به ښځه او بچي پاتې شي.

ولا آخر قد بنى بنيانا ولما يرفع سقفها. او هغه سړي به راسره هم نه ځي چې آبادي یې روانه کړې وي چت یې پرې نه وي اچولې چې نیم زړه یې د کور سره وي.

ولا آخر قد اشترى غنماً او خلفاتٍ وهو منتظر ولادها. او هغه سړي به هم راسره نه ځي چا چې ګډان اخیستې وي او ښان یې اخیستې وي او هغه بلاربې وي او منتظر د اولاد د هغې وي چې دا به لنګیږي بیا روان شو غزا ته.

فأدني للقرية حين صلاة العصر. هغه کلي ته ورغې د مازیګر د لمانځه وخت وه او یا قریب د هغې ته.

فقال للشمس انتِ مأمورة وانا مأمور. لمر ته مخاطب شو ورته وي ویل ته هم ماموریې په غروب باندې او زه هم مامور یم په جهاد باندې.

اللهم احبسها علي شيئاً. ما ته یې لږ حصار کړه چې دا غزا خلاصه شي ځکه مې مخکې وویل چې غالباً دا به سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام وي چې معروف قول د هغه نه منقول دي چې لمر ورته را اعاده شوې وه یا خو هغه ته اعاده شوې وه ده ته محبوس شوې دي.

فحبست عليه. لمر ورته محبوس شو په ځای ورته ودرید لو.

دا دده معجزه شوه عادت خدای تعالی خپل ورته مات کړ او خرق د عادت یې وکړو لمر یې په ځای ورته ودروه خالق درولې ده نه دي درولې خو دده په دعا او لاس باندې شوې دي دا دده معجزه شوه.

حتى فتح الله عليه قال فجمعوا ما غنموا. تر دې چې فتحه یې ورکړه ده لره الله په هغه باندې وي ویل راجمعه کړي څه مو چې نیولي دي هغه وخت کې خو چا مال غنیمت خوړلې نه شو دا خو دي امت لره جائز دي دا به یې راغونډ کړو د هوا نه به اور راغلو دا به یې وسوزول دا به دلیل د قبول د جهاد وه.

فاقبلت النار لتأكله. اور راغې چې دا وخوري.

Scanned by CamScanner

فابت ان تطعمه . او راغې منع یې راوړه چې وخوري دا غنيمت وي نه خوري .

فقال فيكم غلول . دغه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ اعلان وکړو تاسو کې خيانت دي چا درکې خيانت کړې دي .

فليبايعني من كل قبيلة رجل . هره قبيله کې يو سړي دي ما ته لاس راکړي .

فبايعوه . هغوي بيعت وکړو .

فلصقت يد رجل بيده . نېچ شو لاس د يو کس د ده د لاس سره .

فقال فيكم الغلول . تاسو کې دي خيانت د لاس نه ورته معلومه شوه ما درته وويل چې د کشف ډيرې لارې دي چې څنګه يې لاس ورکړو ورته معلومه شوه چې خيانت تا کړي دي يعنې ستاسو قبيلې والا کړې دي .

فلتبايعني قبيلتك . ستا ټوله قبيله به اوس بيعت راسره کوي اول يې دا مشران د قبيلو را غونډ کړي وه .

فبايعته قال فلصقت بيد رجلين او ثلاثة فقال فيكم الغلول . تاسو کې خيانت دي .

انتم غللتم قال فاخرجوا له مثل رأس بقرة من ذهب . هغوي د غواېې د سر اومره سره زر پټ کړي وه ورته راوي ويستل .

قال فوضعوه في المال وهو بالصعيد . ميدان وه .

فاقبلت النار فاكلته .

زما دې ځای نه استدلال دي چې ګورئ دلته واسطه د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ده بلکې دا په يوه بله طريقه دي غيبو نه خدای تعالی علم ورکړو چې لمس د يد وه .

دارنګې صحيح مسلم بيروت چاپ جلد ۸ صفحه ۱۷۱ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۳۹۰ سره سمون خوري :

عن ابي اسماء عن ثوبان قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إن الله زوى لي الارض فرأيت مشارقها ومغاربها .

Scanned by CamScanner

يقيناً خداى پاک را غونډه کړه ما ته ځمکه نو د ځمکې مشرق او مغرب مې وليدل.

و ان امتي سيبلغ ملكها ما زُوِيَ لي منها. چې څومره ځمکه ما ته راغونډه وه زما امتيان به دغې ته رسيږي.

دارنګې صحيح المسلم جلد ۸ صفحه ۱۷۷ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۳۹۲ جوړيږي:

دجال د زمانې قصه نبي عليه السلام فرمايي دغه وخت کې مقابلې د دجال ته:

فيبعثون عشرة فوارس طليعةً. لس (۱۰) آسونو والا يوه ډله به را پورته شي.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اني لاعرف أسماءهم وأسماء آبائهم.

زه پيژنمه نومونه د هغوي نومونه د پلارانو د هغوي.

والوان خيولهم. او رنګونه د آسونو د هغوي.

دا نوم خو به ورته په وحي ذويل شي خو دا رنګ د اس دليل ددې دي چې ده ته کشف شوې وه دا صحنه ټوله پيش شوې وه ده ته.

هم خير فوارس على ظهر الارض يومئذٍ او من خير فوارس على ظهر الارض يومئذٍ.

دغه وخت کې به په مخ د ځمکه باندې غوره مجاهدين د آسونو والا دغه وي.

دارنګې صحيح مسلم جلد ۸ صفحه ۱۶۳ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۱۰۲، د بدر ميدان د جنګ نه مخکې.

ثم انشأ يحدثنا عن اهل بدرٍ. راوي وايي مونږ ته هغه صحابي د بدر واقعه بيانوله.

فقال إن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يرينا مصارع أهل بدر.

رابنودل مونږ ته هغه ځاى د راغورزيدو د اهل بدر.

بالامس. بيګا د شپې رابنودل چې ابوجهل به صبا دلته پروت وي، عتبه به دلته پروت وي او شيبه به دلته پروت وي.

يقول هذا مصرع فلان غداً ان شاء الله. ځاى د پريوتو د فلاني به صبا دغه وي ان شاء الله.

Scanned by CamScanner

قال فقال عمر فو الذي بعثه بالحق ما اخطئوا الحدود التي حد رسول الله ﷺ. هيڅ خطاء نه شول هغه حدود چې نبي عليه السلام پرې کرخي رابنکلې وي همغه ځاى کې پراته وو صبا ته.

دارنګې صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۳۲، اسماء بي بي فرمايي زه راغلم.

فاذا الناس قيام. خلك ولاړ وه.

فقالت سبحان الله قلت آية. ما عائشې بي بي ته وويل آيا څه نشانه يا خبره ده.

فاشارت برأسها اى نعم فقمت. زه هم ودريدم داد صلواة كسوف مونځ دي ډير اوږد وه.

حتى تجلاني الغشي. په ما غشي غالبه شوه.

فجعلت اصب على رأسي الماء. په سر مې اوبه اچولې ما تاسو ته ويلي وه چې د اسماء بي بي غشي په بخاري کې په وسط د مانځه کې ثابته ده هغه دا روايت دي دوي د اسماء بي بي په رد د غشي کې پيش کوي چې دې استعاذه ويلي وه دې باندې خپله هم غشي راغلي ده.

فحمد الله عزوجل النبي ﷺ واثنى عليه ثم قال ما من شيء لم اكن أريته. نه وه يو شي چې ما ليدلي نه وه.

الا رأيته في مقامي. مګر دغه ځاى کې هغه ما وليدل.

حتى الجنة والنار. جنت او جهنم مې وليدل.

نو دا نبي اكرم ﷺ ته كشف تام د جنت او جهنم دغه ځاى کې شوې دي.

دارنګې صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۲۲، وروسته وخت کې د چا د مرګ قصه داد غيبو خبر دي داد نبي عليه السلام صحابوو ته د غيبو علل بنودلي دي.

فقال كنا نحمل لبنة لبنة وعمار لبنتين لبنتين فرآه النبي ﷺ. وليده نبي عليه السلام هغه لره.

فينفض التراب عنه. خاوري ترې وڅندلي.

ويقول ويح عمار تقتله الفئة الباغية. وژني به ده لره يوه ډله د باغيانو.

Scanned by CamScanner

نو هغه علت د مرګ يې ورته بيان کړو چې دې به کله مري او څه مسئله کې به مري او د
چا د لاسه به مري هغه يې بيان کړو.

دا رنګې صحيح البخاري بيروت چاپ جلد ۵ صفحه ۱۸۲، موتی غزوه ته نبي اکرم
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه ليږلي وه په دغه ځای کې مختصر تفصيل ياد کړي:

خمس لا يعلمهن الا الله. چې هغې ته مفاتيح الغيب ويلې کيږي داد مفاتيحو د غيب نه
دي لا يعلم الا هو.

دغه ځای کې د عبد الله ابن مسعود او د محققينو رايه داده چې دا خمس مختص دي
بذات الله تعالى او بعضې مفسرين په دغې کې فقط د قيامت علم مختص ګڼي تر ذات الله او
دې نه اخوا دا څلور چې دي نو په هغې کې څه تاويلات ذکر کوي.

يو ذهغې نه ماذا تكسب غدا دا يادوي چې په طريقې تامې تفصيلي سره چا ته نشته دي
او بعضې مغيبات خالق ورکوي بعضو له يو د هغې نه:

لا تدري نفس بأي أرض تموت. نه پوهيږي نفس چې په کومه ځمکه به دې مري.

نو دې ځای کې تاويل دادی چې يو بأي أرض تموت دي بل بأي أرض تدفن دي بل بأي
أزمنة تموت دي بل بأي علة تموت دي بأي أرض تموت دا خاصه د باري تعالى ده د جمهورو په
نزد بعضې علماء لکه امام طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ د احنافو نه هغه وايي چې نه دا خاصه د خدای
تعالى نه ده خپل تعليم باندې عبادو ته ورکوي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته يې د دې علم ورکړې وه چې
ته به چيرته وفات کيږې داد هغه رايه ده.

خو جمهور وايي چې نه بأي علة تموت دا خاصه نه ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت عمار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ
ته وويل چې باغيان به دې وژني دا علت د مرګ وه.

بأي أزمنة تموت. په کوم وخت کې به مري دا خاصه نه ده ډير خواصو ته د دې علم
ورکول کيږي چې ته به دغه وخت کې مري او بأي أرض تدفن په کوم ځای کې به دفن کيږي دا
خاصه نه ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي:

ما بين بيتي ومنبري روضة من رياض الجنة. زما د کوټې او منبر په مينځ کې رياض

Scanned by CamScanner

الجنة ده .

دويم حديث کې فرمايي :

مابين منبري وقبري روضة من رياض الجنة . زما د منبر او د قبر په مينځ کې رياض الجنة دي .

تطبيق يې دا دی چې نبي عليه السلام ته معلومه وه چې زما کوټه به زما قبر جوړيږي يو معنى ده نو دغه علم ده ته ورکول شوی وه چې ته به دغه کوټه کې دفن کيږې ځکه يې مخکې د هغې نه تعبير په دې سره کړې چې مابين منبري وقبري ومابين منبري وبيتي ، زما د کوټې او منبر مينځ کې رياض الجنة دي او زما د قبر او د منبر مينځ کې رياض الجنة دي .

مخکې يې له دې نه د قبر تعبير کړې دي نو بأي علة تموت دا خاصه نه ده بأي أزمنة تموت دا خاصه نه ده بأي أرض تدفن دا هم خاصه نه ده ، ګوره نبي عليه السلام ته علم ورکول شو چې دا کوټه ستا مقبره ده او دغه شان حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت نه دري ورځې مخکې ودريدلو جنت البقيع کې او دغه ځای ته ودريدلو چې کوم ځای کې دفن دي وايي په دې ځای کې :

لعله يدفن في هذا الموضع رجل صالح . دلته به يو ښه سړي دفن شي ، دري ورځې بعد دې په کې دفن شو .

بأي أرض تدفن دا هم ورکول کيږي بأي أرض تموت محققين وايي چې دغه خاصه ده چيرته به مري دا نه ورکول کيږي او ريښتيا نه معلوميږي چې د سړي ساه به چيرته خيژي خو دې کې د محققينو دغه رايه ده او د اکثرينو دغه رايه ده خپله طحاوي رحمه الله مشکل الاثار عبارت به زه تاسو ته وروسته ذکر کړم هغه وايي چې دغه علم هم نبي عليه السلام ته ورکړې شوې وه .

بل يعلم ما في الأرحام . خدای تعالى علم لري په هغه څه چې په رحمونو کې دي نو په دې کې تفصيل دا دی چې ما في الارحام هغه وخت کې چې دوي کې ساه واچولې شي نو هغه بيا ما في الارحام نه وي من في الارحام وي د څلورو مياشتو نه بعد دا خاصه د باري تعالى نه ده

Scanned by CamScanner

څلورو میاشتو نه مخکې چې عبارت د هغې نه په ما سره کیږي دا خاصه د باري تعالی ده په نزد د اکثرینو محققینو باندې.

د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه چې هغه خپلې لور حضرت عائشې رضي الله عنها ته ویلي وه چې دا مال بیا تقسیم کړه په دوه ورونو او دوه خویندو باندې هغې ورته وویل ورور مې محمد دي او عبدالرحمن دي او خور مې یوه ده چې اسماء بي بئ ده دوه خویندي کوم دي نو صدیق اکبر رضي الله عنه ورته فرمایي زما هغه بله بي بي چې حامله ده د هغې لور پیدا کیږي هغه در ته یادوم، وروسته به عبارت راشي.

نو اوس که څوک اعتراض کوي چې دا نه منمه ځکه دا خو مخالف شو د نص، قرآن مخالف نه دي دغه وخت کې دغه جیني د څلورو میاشتو نه غټه وه دا ما في الارحام نه وه من في الارحام وه او د من في الارحام علم خو نن صبا دا ډاکټران پرې پوهیږي دا ټستونه چې کوي معائنه وکړي بیا تا ته وایي چې هلک دي یا جیني دا خو د قادیانانو اعتراض دي.

قادیاني دا اعتراض کوي په قرآن کریم چې العیاذ بالله دې کې دروغ راغلي دي یو دغه اعتراض کوي قادیانیان وایي چې قرآن کریم وایي چې علم دد دې خدای تعالی سره دي او نن صبا ډاکټران پرې پوهیږي.

نو د هغې جواب به دا وي چې یعلم ما في الارحام کې ما د غیر ذوي عقلو د پاره دي څلورو میاشتو پورې ساه ورکې نشته غیر ذي علم دي کله چې ده ته ساه واچول شوه دا من في الارحام شو بیا او یعلم من في الارحام دا خاصه نه ده ذکر شوې ما في الارحام خاصه ده څلورو میاشتو نه بعد ده کې ساه واچول شوه دا من في الارحام وګرځیده.

یو قادیاني چا راوستلي وه هغه هم دا خبره وکړه ما همدا جواب ورته وکړو ما ورته وویل ته په دې څه پوهیږي ته خو جاهل یې دا ما وایي من نه وایي ما في الاحام ما ورته وویل د څلورو میاشتو پورې معلومات کولې شي د دنیا ډاکټران دې خواري وکړي یعلم ما في الارحام څلورو میاشتو پورې د نر او ښځې بیلیدل نه کیږي.

هغه بیا یو بل اعتراض وکړو وایي دا نطفه مخکې په پیاله کې اچوي بیا یې وړي هلته یې ټیسټ کوي او وایي چې دا د نر نطفه ده دا د ښځې نطفه ده یعنې که دا رحم ته لاړه نر ترې

Scanned by CamScanner

پيدا کيږي يا ښځه ترې پيدا کيږي مخکې نه ورته معلومات کيږي وايي هغې سره څه کوي ما ورته وويل بيا هم په قرآن کريم ايراد او اعتراض نشته دي ځکه دا ډاکټران پوه شول په يعلم ما في الفيالي (پيالي) باندې او خداى تعالى عالم دي په يعلم ما في الارحام باندې نر دې شي دا نطفه چې رحم ته ولوېږي بيا دې څلورو مياشتو پورې معلومه کړي واي بيا خوېې معلومات نه کيږي چې کله رحم ته لاړه او د هغې مشيمه پرې راغله بيا تر څلورو مياشتو د دنيا يو ډاکټريې هم نر او ښځه نه شي بيلولې او څلورو نه اخوا چې بيلېږي دا من في الارحام دي ما في الارحام نه دي نو چې هر کله انګريز جوړه کړي آله باندې د هغې کشف کيدې شي نو خالق خاصو عبادو ته د هغې کشف څنګه نه شي ورکولې.

او د قرآن کريم سره يې ټکراو هم نه راځي غلطه ترجمه مه کوي بيا به دربانديې دا سياسي خلک او ډاکټران اعتراض نه کوي دا ډاکټران او تعليم يافته خلک زمونږ د غلطو عقيدو ته رسيدلي دوي د پاره يو بل قسم ليټرې چرې رواني دي دعاء شته د عاء نشته دي دې طالبانو لپاره انګريزانو راويستلي دي د وهابيانو په خولو باندې دا خو زمونږ او ستاسې دې سره تعلق دي غټ ډاکټران او غټ افسران هغوي ته چې کوم شبهات په ليټروچرو کې برطانيه دلته اسلامي لباس کې را دننه کوي هغه څه بل قسم اعتراضات دي هغه ورته دا شيان مخې ته کوي وګورئ قرآن کريم کې دروغ راغلل دا او هغه په داسې څيزونو يې د هغوي دا ذهن له قرآن کريم نه اړوي بل دين ته يې جوړوي.

دا ډاکټر مسعود څوک بې دينه پاکستان کې دي دده داسې نظريه ده چې هغه دين چې نبي عليه السلام راوړي دي دې زمانې سره نه لږېږي مونږ به يو جديد دين دنيا ته خلکو ته بنايو او دا جماعت اسلامي د پاکستان چې ده دا هم څه بل قسم دين جوړول غواړي هغه دين چې پخواني دي دوي وايي هغه به خپلې زمانې سره لږوي د جماعت اسلامي نوي ايجاد چې وشو نو علامه اقبال هغه وخت کې ژوندي وه او ابو الاعلى مودودي دا کالجيان او کم عمره هلکان ځان سره کړي وه دلته جلسه هلته جلوس دا شيان شروع ويل.

نو بيا کالجيان لاړل او علامه اقبال ته کيناستل وايي چې عالم خو هغه عالم وي چې دا دين د خپلې زمانې سره لږوي او مونږ ته مودودي دا تعليم راکوي چې بايد خپلې زمانې سره مونږ دا دين ولږوو تاسو هغه پخواني دين په دې وخت کې نافذوي دا در سره کله کافر مني

Scanned by CamScanner

وایي علامه اقبال سر ټیټ کړې وه سرېې را اوچت کړو دا کشران هلکان وه وایي څه مقصد مو دې وایي مقصد مو دادی چې ته ولې دا فیصله کوې علامه اقبال د مخلوط تعلیم سخت مخالف وه چې هلکان او جینکي دې ګډ تعلیم وکړي علامه اقبال به په سرکاري سطحه ددې مخالفت کولو نو دغو هلکانو ورته وویل چې ته د هغه زمانې دین مه راوله دې زمانې کې باک نه کوي چې هلکان او جینکي دې یو ځای کلاس کې ناست وي .

نو علامه اقبال ورته وویل چې بنه دا دین د خپلې زمانې سره ولړوم وایي چې هاو وایي چې بنه خپلې زمانې سره یې ولړوم نو په کار داده چې تاسو هلکانو ته هم برقې درواچوم ددې معنی دا شوه دین د خپلې زمانې سره لړول خو دې ته نه وایي چې واړې ورسستې کړه هلکان او جینکي یو ځای کینوه چې څه سره کوي دین د خپلې زمانې سره لړول خو دا معنی ده چې دا خبرې او دا قوانین سخت کړه کلک یې کړه هغه وخت کې چې څه ناڅه مسجد ته خلک تللې وي تعلیم ته تللې وي هغه وخت کې دومره عیاشي نه وه اوس دې زمانه کې سخت کړه دا قوانین مه پرېږده دا وایي چې دین د خپلې زمانې سره لړوم نو کالجیانو هلکانو ته به هم برقې ور په سر کړم ځکه دا سپین سپین هلکان دي که دا بغیر د برقو ځي نو دا به چیرته نور هلکان پرې اخته شي ټول یې وایي په شرمونو وشرمول نو دا مودودي جماعت پاکستان کې چې دي بل شان دین راوستل غواړي پاکستان کې .

موتې غزی هغه مذکوره صفحه باندې نبي اکرم ﷺ حضرت زید حضرت جعفر عبدالله بن رواحه رضي الله عنه مامور کړل دې هر یوه ته یې وویل که دا شهید شو نو دا به امیر وي که دا شهید شو نو اول یې حضرت زید رضي الله عنه ټاکلي وه وایي که دا شهید شو حضرت جعفر رضي الله عنه به امیر وي او که دا شهید شو نو عبدالله بن رواحة رضي الله عنه به امیر وي .

کتاب المغازي لیکلي وایي چې کله دوي تلل نو کورونو ته لاړل او پخه مخه بنه یې واخیسته او بې بیانو ته یې وویل چې نبي اکرم ﷺ په یو جهاد کې هم امیر سره دا نه دي ویلي که دا شهید شو نو دا دې امیر وي نو هغه چې دا اشکاره کړي مونږ بیا نه راځو زمونږ او ستاسو ملاقات به ورځ د قیامت کې کیږي پخې اجازې یې ورواخیستي د نبي اکرم ﷺ هغه خبره باندې ددوي پوره یقین وه چې ده وویل همدغسې کیږي دومره د هغوي یقین وه د نبي علیه السلام په خبرو تصدیق یې وکړو .

Scanned by CamScanner

د بخاري شریف واقعه ده خیبر ته روان وه په لاره باندې وایي څوک نشته ده چې څه اشعار ووایي چې دا خلک را ګرم شي جزباتو کې شي نو یو صاحب راغې هغه اشعار شروع کړل ډیر خوندور اشعار بخاري را اخیستي دي نبي اکرم صلی الله علیه وسلم و فرمایل :

رحمه الله. خدای تعالی دې پرې ورحمیږي .

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمايي : کاشکې دا الفاظ یې دلته نه وای ویلي او دا کس به باقي پاتې وای مونږ ته به یې نا اشنا اشعار ویلي په غزواتو کې ولي صحابه وو ته پته وه چې نبي علیه السلام به مخکې د چا باره کې رحمه الله هغه به شهید کیدلو .

دې غزی کې همغه شاعر وه چې لاړ بیا شهید شو په خیبر کې د بخاري واقعه ده نبي اکرم صلی الله علیه وسلم چې څنګه اشعار واوریدل وایي رحمه الله ، نو دا اشاره ده، ده ته څه کشوف او حالات کشف کیدل د خپل امت او د صحابه وو نو چې کله هلته غزوي ته هغوي لاړي نو حضرت زید رضي الله عنه جنډا لاس کې ونیوله جهاد شروع شو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د خپل کور نه رابهر شو دې مبارک خپله تللي نه وه دې مینځ کې ډیره فاصله وه دې مدینه منوره کې وه را بهر شو او په منبر باندې کیناستلو او صحابه کرام چې څوک پاتې وه په مسجد نبوي کې یې راغونډ کړل مبارک وفرمایل چې :

أخذ الراية زيد فأصيب . ثم أخذها جعفر فأصيب . ثم أخذها عبدالله بن رواحة فأصيب. جنډا حضرت زید لاس کې ونیوله شهید شو ، بیا حضرت رواحة ونیوله شهید شو .

وعيناه تذرفان . سترګو مبارکو نه یې اوښکي روانې وي او ژړل یې .

حتى أخذ الراية سيف من سيوف الله. جنډا د خدای تعالی د تورو نه یو توري اوچته کړه.

حتى فتح الله عليهم . فتحه پرې راغله .

صحابه حیران وه چې دا به اوس څوک وي چې څنګه هغوي راورسیدل البداية والنهاية دا واقعه را اخلي وایي هغه یو په دوي کې مخې ته راغې او نبي علیه السلام ته عرض کوي چې زه به تاته واقعه بیان کړمه .

رحمت عالم صلی الله علیه وسلم ورته فرمايي ته یې بیانوي که زه یې درته بیان کړمه وایي تاسو یې بیان کړي نبي علیه السلام تو له قصه ورته بیان کړه نو هغه ورته قسم خوري داسې دي

Scanned by CamScanner

بيان کړه لکه ته چې مونږ سره وي هيڅ هم نور نه دي پاتې شوې همدغسې شوې وه او بيا صحابه کرامو زر زر پوښتنې وکړې چې دا څلور مه جنډه چا اوچته کړه هغوي ورته وويل چې خالد ابن وليد رضي الله عنه .

نو کومو احاديثو کې چې دلته راغلي دي چې اخذ الراية خالد بن وليد هغه روايت بالمعنى شوې دي اصل کې نبي عليه السلام سيف من سيوف الله ويلي وه نو هغه خالد بن وليد وه نو چا د هغه نه تعبير په دې سره کړي دي دا هغه کشف وه ده ته چې مدينې منورې کې ورته د غزوه موتى کشف ورته وشو او دې ځاى کې مؤرخين دا هم را اخلي چې نبي عليه السلام دا وفرمايل چې اخذ الراية زيد وړاندې شو بيا مخې ته لاړ چې مخې ته لاړ وايي شيطان ورته راغې او ورته وايي چې مړ کيږي ده د هغه هيڅ لحاظ ونه ساته پرې ورغې شهيد شو د جنت دننه کيدو کې هم هيڅ ستي رانه غله .

حضرت جعفر رضي الله عنه چې جنډه واخيسته شيطان ورته راغې ورته وويل چې شهيد کيږي دا دنيا يې ورته راياده کړه هغه ورته التفات ونه کړو ور مخکې شو نو شهيد شو جنت ته لاړو او په جنت کې الوځي دا طيار چې ورته وايي دغه وخت کې نبي عليه السلام ترې تعبير کړي وه او حضرت عبد الله بن رواحة ته چې شيطان راغې لږ خپه نيولي شو بيا واپس شيطان ته يې التفات ونه کړو وي رټلو ورمخکې شو شهيد شو د جنت په ننوتلو کې هم لږ وروسته شو انصارو باندې .

دا الفاظ بنه هم نه وه لګيدلي په دې ځاى کې څکه عبد الله بن رواحة رضي الله عنه انصاري وه او دا دوه صحابه کرام مهاجرين وه چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ده باره کې ولې داسې وويل تاسو دې ته سوچ وکړي چې هغه ميدان کې څه دا خو دا صحنه ورته ټوله کشف شوله دغه وخت کې شيطان هم وليده شيطان خو دننه زړه ته بيا راځي د وسوسي زړه ته راځي حضرت زيد ته زړه کې وسوسه کوي هغه هم نبي عليه السلام ته کشف شوه بيا حضرت زيد رضي الله عنه هغه ته جواب ورکوي رټي دا شيطان او مخکې کيږي هغه هم کشف شوه او چې بيا شهيد شو او متصل جنت ته داخل شو هغه هم کشف شو بيا دغه شان حضرت جعفر بيا دغه شان حضرت عبد الله بن رواحة رضي الله عنه دا دليل دي چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ته کشوف وه او څه علوم وه چې خداى تعالى ورکړې وه عامو خلکو ته په هغه اندازه نه وه .

Scanned by CamScanner

دارنګې صحيح البخاري جلد ۴ صفحه ۹۱ عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي :

کان على ثقل النبي صلى الله عليه وسلم رجل يقال له کرکرة .

د نبي عليه السلام په بار باندې يو سړي مقرر وه کرکرة نوميدلو .

فمات . مړ شو .

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم هو في النار فذهبوا ينظرون اليه فوجدوا عباءة قد غلها . يوه شړي يا کمبل هغه ده غلول په هغې کې کړي وه .

نو دا مخکې نه نبي عليه السلام د هغې اخبار ورکړو هغه ته پته وه چې دې به په کوم حال وي خو دا دليل د کفر خو نه شو کنه .

دې نه بعد به بعضې علوم دوي به وايي چې هغه وخت کې وه د وفات نه بعد ورته نشته دي .

فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۷۲ ، د دمشق فتحه وه او د دمشق په پنځه دروازو باندې صحابه کرام ډلې ډلې پراته وه يوه دروازه باندې ابو عبيدة ابن الجراح ، ابو هريرة رضي الله عنه دده لښکر کې د غه ځای کې وه دا ډيره طولاني واقعه ده دې واقعه ذکر کوي :

إن ابا عبيدة رأى في منامه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول له . صبا ته چې دمشق فتحه کيږي ابو عبيده خوب ګوري نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ورته خوب کې فرمايي :

تفتح المدينة إن شاء الله تعالى في هذه الليلة . بيګا ته به دا ښار فتحه شي .

فقلت يا رسول الله اراك على عجل . ما ته جلتي کې ښکاريږې .

قال . نبي عليه السلام ورته فرمايي .

لأحضر جنازة ابي بكر ن الصديق . جلتي ځکه کوم چې د حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه جنازه کې حاضر شمه .

قال فاستيقظت من المنام . د خوب نه بيدار شومه ګوري دا خوب د صحابي دې او ليدلې يې نبي عليه السلام دي :

Scanned by CamScanner

من رأني في المنام فقد رأى الحق ان الشيطان لا يتمثل بي . که ته خوب کې نبي اکرم ﷺ وګورئ نو شيطان په هغې شکل نه شي راتللې .

خو دې کې د علماو اختلاف دي چې : شکل مدفون في المدينة المنورة المذکور في الشمائل . دغه شکل کې نه شي راتللې که بالکل ويلې نه شي بعضې علماء وايي شکل مخصوص کې نه شي راتلي او بعضې وايي بالکلية ويلي نه شي داسې چې زه پيغمبر يمه بهر حال يو اختلاف خو شته دي که ته خوب کې نبي عليه السلام وګورئ که د هغه علماء قول مراد وي چې شکل مخصوص مراد دي :

نو ستا خوب کې خو شبهه راغله چې کيدې شي تا په شکل مخصوص نه وي کتلې اوس ابو عبيده رضي الله عنه چې نبي عليه السلام خوب کې وګورئ نو هغه خو شکل مخصوص پيژني کنه د هغه خو ملاقات شوې دي هغې کې دا شبهه هم ختمه شوه ته چې خوب وګوري ما ته يې بيان کړي يوه بله شبهه ده کيدې شي تا دروغ ويلي وي هسې ما ته شيخې ثابتوي .

اوس خوب حضرت ابو عبيدة رضي الله عنه ليدلي :

الصحابة كلهم عدول ، دروغ نه وايي دا شبهه هم ختمه شوه نو صحابي په خوب کې د محمد مصطفى ﷺ کتل دا قوت لري لکه څنګه چې په ويښه باندې د رحمت عالم د زبان حديث درته پيش کړي دومره زور لري نو دادی څوک نه وايي چې داد خوب قصه ده خوب دې خو خوب د حضرت ابو عبيدة رضي الله عنه دي او په خوب کې محمدِ عربي ﷺ ليدل شوې دي په دې کې هيڅ قسم شبهه نور نه پيدا کيږي هغه ورته عرض کوي :

لأحضر جنازة ابي بكر الصديق رضي الله عنه. نو يو د صحابه وو علم ورکول شو چې د مشق کې دوي په غزا لګيا دي صبا ته چې کومه فتحه کيږئ د هغې نه يې مخکې خبر ورکړو او دغه شان جنازې د ابو بکر الصديق رضي الله عنه کې حاضري وکړه .

لأحضر لفظ ته متوجهې شي د نبي اکرم ﷺ څه حضور ثابتيږي خو دا حضور ذاتي نه دي بلکې روح يا مثل د روح دي داد محققينو قول دي نبي عليه السلام حاضر دي او ناظر دي دا يوه لانجمنه مسئله ده او بريلويانو ډير زور هم دې مسئلې ته ورکړې دي او بعضې علماء ترې چټ انکار کوي بالکل چې د هغه روح د حضور قول دې وکړو هم کافر کوي دې نو

Scanned by CamScanner

هغسې مه کوه څکه :

لأحضر جنازة أبي بكر الصديق . د صديق اکبر رضي الله عنه جنازه کې د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم حضور په دې روايت ثابت دې .

دارنګې المستدرك على الصحيحين للحاكم جلد ۴ صفحه ۲۰ :

اخبرني ابو القاسم الحسن بن محمد السكوني بالكوفة حدثنا محمد بن عبد الله الحضرمي حدثنا ابو كريب حدثنا ابو خالد الاحمر حدثني رزين حدثتني سلمى قال دخلت على ام سلمة وهي تبكي .

حضرت سلمى رضي الله عنها فرمايي ام سلمة رضي الله عنها ته ورغلم هغې ژړل دا هغه ورځ ده په کربلا کې د حضرت حسين رضي الله عنه شهادت شوې دي زه ورغلم دا په ژړا وه .

فقلت ما يبكيك . ما ورته وويل څه شي دې ژړوي .

قالت رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم في المنام يبكي . نبي عليه السلام مې په خوب کې وليدلو ژړل يې .

وعلى رأسه ولحيته التراب . په سر او ږيره مبارکه يې خاورې وې ګرد جن وه .

فقلت مالك يا رسول الله صلى الله عليه وسلم . څه درباندې شوې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم .

قال شهدت قتل الحسين آنفاً . د حضرت حسين رضي الله عنه قتل ځای ته حاضر شوې ومه .

اوس دا شهود دلته په کومه معنى اخلې دا هم همغه د حضور معنى ده چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم روح يا په مثل د روح بعضې مواضعو ته حاضري کولې شي او دلته د غلاطو بريلويانو له مونږ سره فرق شته هغه دا غلاط بريلويان دا وايي چې هر کور او هر سړي سره په دائمي استمراري طريقه باندې د نبي عليه السلام روح موجود دي هغوی داسې عقيده ساتي هغوی وايي هر کور هر ځای کې موجود دي همغه څه خبره کتبو را اخيستي ده خو دوی په هغه مينه کې ورننوتي دي خبره ترې بل ځای ته تللې ده افراط کوي نو نفس حضور نه انکار مه کوي د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم نفسِ حضور روحي په بعضې مواضعو کې چې خدای پاک وغواړي د خدای جل جلاله خوښه شي تللي شي او دا حضور بعد الوفات هم ثابت دي او دغه

Scanned by CamScanner

لقاء د ژوندي له مړو سره په دې لوي دليل ملاقات د نبي عليه السلام دي له انبياء سره په ليلة المعراج هغوي دنيا نه تللي وه دا ملاقات څنګه شوې وه، دغه شان لقاء هم ورسره کيږي اولياء ورسره ملاويږي سترګي مشي کوي.

تفسير روح المعاني د ﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ﴾ ددې په شرحه کې دا مسئله تفصيلي چيړلي ده او پوره تفصيل يې کړې دي هلته مراجعه وکړي او په هغې کې بيا ديو ولي الله حال را اخيستي دي وايي هغه وايي چې ۲۴ ګينټو کې نبي عليه السلام د سترګو رپ قدرې ما نه پناه شي وايي زه په خپل ايمان ويريږم دومره دائمي ملاقات زه ورسره کومه او دغه شان د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله واقعه يې را اخيستي ده چې بغداد کې دې په منبر کيناسته او رعب پرې راغې او نبي اکرم صلى الله عليه وسلم وايي مخامخ راغې ما ته ودريدلو.

افتح فاك يا بُني. خوله دې خلاصه کړه وايي چې خوله مې خلاصه کړه (۷) ځل يې په خوله کې لاړې راکړې او بيا يې دا واقعه را اخيستي ده چې حضرت علي رضي الله عنه راغې هغه ٦ ځل په خوله کې لاړې راکړې دا واقعه تفسير روح المعاني را اخيستي ده، داد هغه کرامت شو دا ترې ثابتوي چې د انبياء اولياء ارواح تر قبره يا تر عليين محبوس نه دي جنت ته ځي د عرش لاندې سجده لړوي عليين کې وي روضې مبارکې او د قبر سره يې تعلق وي عامو مجالسو ته ددوي حضور په شکل ديو ذات باندې کيږي دا څه ممنوع نه دي دې کې بيا غلو افراط کول چې هر کور او هر سړي سره او هر وخت کې موجود دي دې باندې چا قول نه دي کړي چې هر سړي سره د نبي عليه السلام روح دي د هيچا قول داسې نشته سواد دغو غلاطو نه دوي به داسې قول کړې وي مخکې پرې چا نه دي کړي.

ما يو بريلي ته وويل چې ستاسو دا عقيده ده چې دې مجلس کې اوس نبي عليه السلام موجود دي وايي هاو ما ورته وويل بيا ستاسو نه غټ بې ادبه بل څوک نشته دي ځکه:

﴿لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ﴾ ستاسو دا عقيده هم ده چې دلته موجود دي او چغې څومره ديرې وهي دا خو غټ بې ادبه هم تاسې يې چې عقيده دې داده چې دلته موجود دي خو غلي شه ادب وکړه بيا چغې څه د پاره وهي څومره چغې بيا ددوي په مجالسو کې وي.

Scanned by CamScanner

نو نه پوهيږم چې دوي د چا قول را اخيستي دي چې نبي عليه السلام په هر كور او هر ذات سره دي او هر سړي سره دي ته څه وايي نبي اكرم صلى الله عليه وسلم به مونږ نه په دې خوشحال شي چې مونږ د هغه په شان كې مبالغه وكړه په دې نه خوشحاليږي هغه مبارك فرمايي حضرت علي رضي الله عنه ته چې ستا په محبت كې به يو قوم ګمراه شي او ستا په عداوت كې به هم ګمراه شي.

نو داسې خلق شته چې د نبي عليه السلام په محبت كې ګمراه شوې ګوري هغه ډله به هم پيژني هغې ته به موسوچ وي چې هغه څوك دي چې د نبي عليه السلام سره مينه كوي او په مينه كې ګمراه شوي دي نو هغه دغه افراط والا دي چې زياتي كوي چې هغه د صراط مستقيم نه بل طرف ته ذهاب كوي دغه واقعه د ام سلمة رضي الله عنها چې:

شهدت قتل الحسين رضي الله عنه، تاريخ الخلفاء د امام سيوطي رحمه الله جلد ۱ صفحه ۱۸۲، امام ترمذي معرب بيروت چاپ جلد ۵ صفحه ۶۵۷، معجم الكبير د طبراني جلد ۱۷ صفحه ۱۹۲، دلائل النبوة د بيهقي جلد ۷ صفحه ۴۸، ذخائر العقبي جلد ۱ صفحه ۱۴۸، اسد الغابة جلد ۱ صفحه ۲۶۶، البداية والنهاية جلد ۸ صفحه ۲۱۹، تاريخ الاسلام للامام الذهبي جلد ۵ صفحه ۱۷، دا ټولو كتابونو په دغه مذكورو صفحو د ام سلمة رضي الله عنها دغه حديث ذكر كړې دي.

دارنګې البداية والنهاية جلد ۶ صفحه ۳۲۹ په دې كې حضرت عباس رضي الله عنه چې بندي شو نو د بنديانو نه فديې غوښتلې كيدې ده ته يې وويل چې فديه راوړه ده وويل:

لا مال له. زما خو څه مال نشته څه به راوړمه.

فقال له. رحمت عالم صلى الله عليه وسلم ورته فرمايي:

فأين المال الذي دفنته انت وأم الفضل تحت أسكفة الباب.

تا او ام الفضل چې د كور د دروازې د درشل د لاندې كنده ويسته او مال مو په كې پټ كړو هغه مال څه شو او دا هغه وخت كې شوې وه چې دې جنګ ته را روان وه پيسې ځان سره راوړې بيا ور روان شو هسې نه چې زه مړ شمه هغه ځاى كې بې بې ورته دروازه كې ولاړه وه كنده يې وكنسته او په هغې كې يې مال پټ كړو دلته خو بل څوك نه وه كنه يوائې نبي اكرم

Scanned by CamScanner

ﷺ ته مدینه منوره کې ددې حال کشف شو .

فقال والله یا رسول الله ان هذا شيء لم یطلع علیه غیري وغیر ام الفضل الا الله عزو جل .

د خدای تعالی نه سوا پرې بل څوک خبر نه وه ما او هغه پرې خبر وو بس نبي علیه السلام ته الله پاک ددې علم ورکړو .

دارنګې تاریخ الخلفاء جلد ۱ صفحه ۱۸۲ :

واخرج البیهقي في الدلائل عن ابن عباس قال رأیت رسول الله ﷺ بنصف النهار أشعث أغبر .

نبي اکرم ﷺ غرمه وه رابهر شو په خپو یې څه نه وه سر مبارک باندې هم څه نه وه .

وبیده قارورة . په لاس کې شیشه وه .

فیها دم . په هغې کې وینه وه .

فقلت بأبي و أمي یا رسول الله ما هذا؟ . دا څه شي دي .

قال هذا دم الحسین وأصحابه . داد حضرت حسین رضي الله عنه او د هغه د ملګرو وینه ده.

لم ازل التقطه منذ الیوم فاحصي ذلك الیوم فوجدوه قتل یومئذٍ . هغه ورځ ما په نښه کړه په کومه ورځ چې دې مبارک راوتي وه همغه ورځ باندې بیا دې شهید شوې وه .

داد حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه حالات نبي علیه السلام ته وفات نه بعد هغه ته دا کشف شوې دي .

دارنګې السیرة النبویة لابن هشام جلد ۳ صفحه ۱۶۰ د بدر غزی ته دوي روان دي په لاره کې قافله واړوله یو سړي په لاره روان دي .

فسألوه عن الناس فلم یجدوا عنده خبراً . تپوس یې ترې وکړو چې د ابو جهل ملګري چیرته دي یا د ابو سفیان قافله هغه وویل ما ته څه پته نشته .

فقال له الناس سلم علی رسول الله ﷺ. خلکو ورته وویل راشه نبي علیه السلام ته سلام وکړه .

Scanned by CamScanner

قال . هغه اعرابي ورته وايي .

او فيكم رسول الله قالوا نعم فسلم عليه ثم قال ان كنت رسول الله فاخبرني عما في بطن ناقتي هذه .

که ته پيغمبر يې زما ددې اوښې په خيټه کې څه شي دي بچي نر دي که ښځه ده څه شي په کې دي .

قال له سلمة بن سلامة بن وقش رضي الله عنه. سلمه بن سلامه ابن وقش راوړاندې شو عرض كوي :

لا تسأل رسول الله صلى الله عليه وسلم. نبي عليه السلام نه دا پوښتنې مه کوه .

واقبل علي . ما ته را مخامخ شه .

فانا أخبرك عن ذلك . دا خبر خو به زه هم درکړم درته چې دې کې څه دي .

نزوت عليها ففي بطنها منك سخلة . تا پرې ورټوپ کړی دی تا نه په دې کې څه شي دي هغه اعرابي ته وايي تا ددې اوښې سره بد كاري کړې ده او ستا نطفه په کې پرته ده .

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم خو د حياء نه ورته څه ونه ويل او صحابي مبارک ته کشف وشو هغه ورته دا حال ښکاره کړو .

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم مه افحشت على الرجل . ډير بد کنځل دې ورته وکړه نو صحابه وو ته هم د نبي عليه السلام له خاطره بعضې حالات كشف شوې دي .

دا رنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۲۲۸ :

حدثنا عبد الله حدثني ابي حدثنا يزيد بن هارون حدثنا حماد بن سلمة عن الزبير ابي عبد السلام عن ايوب بن عبد الله بن مكرز عن وابصة بن معبد قال اتيت رسول الله صلى الله عليه وسلم وانا اريد ان لا ادع شيئاً من البر والاثم الا سألته عنه .

ما زړه کې دا راوستل چې د خير او د شر يوه خبره هم نه پريږدم نن د نبي عليه السلام نه په کې تپوس کومه .

Scanned by CamScanner

واذا عنده جمع . چې راغلم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره جمعه د صحابوو ناسته وه .

فذهبت اتخطي الناس . د خلکو په اوږو مې خپې اړولي روان ومه .

فقالوا إليك يا وابصة عن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إليك يا وابصة .

صحابه كرام آواز كوي لرې شه يا وابصة د خلكو په اوږو خپې اړوي .

فقلت انا وابصة دعوني . پرېږدي .

ادنو منه . چې ورنيږدې شمه .

فانه من احب الناس الي ان ادنوا منه . چې نيږدې شمه نو ما ته به ډېره ښه وي .

فقال لي . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي .

ادن يا وابصة ادن يا وابصة . رانيږدې شه ، رانيږدې شه .

فدنوت منه . ورنيږدې شومه .

حتى مست ركبتي ركبته . زما زنګنونه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د زنګنونو سره ولږېدل .

دا مشائخ مريدان ځان ته په همدا اسې شکل ځان ته کينوي .

فقال يا وابصة أخبرك ما جئت تسألني عنه او تسألني . زه خبر درکړم چې څه ته راغلي يې که ته رانه تپوس کوي .

فقلت يا رسول الله فاخبرني قال جئت تسألني عن البر والاثم . دې ته راغلي يې چې د خير او شر پوښتنه کوي د بر او اثم .

قلت نعم فجمع اصابعه الثلاث . درې ګوتې سره غونډې کړې جوختې کړې .

فجعل ينكت بها في صدري . دا درې ګوتې زما په سينه کې وهلې لکه بعضې طالبان وايي دا پيران ولې مريدانو ته په سينه کې ګوتې ږدي .

ينكت بها في صدري ويقول يا وابصة إستفت نفسك البر . بر څه شي دي .

ما اطمأن اليه القلب واطمأنت إليه النفس والاثم ما حاك في القلب وتردد في الصدر وان

Scanned by CamScanner

أفتاك الناس. اګر که خلک فتوی درکړي خو ته استفتاء د نفس او قلب نه کوه دا هغه وخت کې نفس او قلب صفا وي.

نو داد وابصة رضي الله عنه یو سوچ وه له ځان سره نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ورته ښکاره کړه چې ته نن په دې خیال باندې راغلې وې.

دا رنګې المستدرك على الصحيحين جلد ۳ صفحه ۵۲ په دې کې د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه روایت دې هغه د ابوذر غفاري رضي الله عنه واقعه ده چې له غزی نه پاتې شوې وه يو ضعيف اوښ چا ورکړې وه بيا روان وه بيا هلته نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ته چا وويل چې يو سړي را روان دې چې دا به څوک وي نبي عليه السلام وفرمايل:

كن اباذر. شه اباذر دا چې را روان يې ابوذر شه هغه چې رانيزدې شو رښتيا ابوذر غفاري وه بيا نبي اکرم صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

رحم الله اباذر يمشي وحده. مزل يوائې کوي.

ويموت وحده. يوائې به وفات کيږي.

دغه اخبار د غيب دي چې دا به يوائې وفات کيږي دا خو ډير وروسته دې د عثمان ذي النورين په خلافت کې ربذي ته لاړ د فتنې په دور کې او هلته ځان ته وفات شو.

ويبعث وحده..

ډير وخت تير شو بيا ربذي ته لاړو هلته چې همدغه شان وفات شو بيا د دفن يې څوک نه وه عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه عراق نه را روان وه او هغه يې بيا جنازه وکړه دفن يې کړو نو هغه ځاى کې بيا ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل:

فاستهل ابن مسعود رضي الله عنه يبكي. چغې وهلې په چغو يې ژړا کوله.

فقال. وويل يې:

صدق رسول الله صلى الله عليه وسلم يرحم الله اباذر يمشي وحده ويموت وحده ويبعث وحده.

نو دا هغه اخبار د غيب دي نبي عليه السلام ته دده د وفات قيصه ورته معلومه وه چې په څه شکل به وفات کيږي.

Scanned by CamScanner

دا رنګې حلية الاولياء جلد ٦ صفحه ١٠١ :

حدثنا سليمان بن احمد حدثنا بكر بن سهل حدثنا نعيم بن حماد حدثنا بقية عن سعيد بن سنان حدثنا ابو الزاهرية عن كثير بن مرة عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ ان الله عز وجل قد رفع لي الدنيا .

خدای تعالی دا دنیا ما ته راو اوچته کړه .

فأنا أنظر اليها وإلى ما هو كائن فيها الى يوم القيامة . ما ورته کتل تر قیامته پورې چې څه کیږي دي ټولو ته مې کتل .

كأنما انظر الى كفي هذه . لکه زه چې لاس ته ګورمه .

جليان من امر الله عزوجل جلاه لنبيه . داد خدای تعالی هغه تجلي وکړه او هغه څه يې ښکاره کړل خپل نبي لره .

كما جلاه للنبيين قبله . لکه مخکې انبياء ته چې خدای تعالی دا ښکاره کړي وه دغسې ما ته هم ښکاره کړل دا هغه کشف تام شو .

دا رنګې شرح مشكل الآثار جلد ٧ صفحه ٣٢٣ :

قوله ﷺ ما بين قبري ومنبري روضة من رياض الجنة . وعلى ما في سواه ما بين بيتي ومنبري روضة من رياض الجنة .

وايي د دې تطبيق څه شي دي .

فكان تصحيحهما يجب به ان يكون بيته هو قبره . چې دده کوټه د همده قبر دي .

ويكون ذلك علامة من علامات النبوة جليلة المقدار . دا وايي علامه د طبق نبوة شوه چې مخکې نه اخبار ورکړې دي .

لان الله عزوجل قد اخفى على كل نفس سواه ﷺ .

له نورو یې پټه کړې ده ته یې ښکاره کړه .

الأرض التي يموت فيها بقوله عزوجل في كتابه : ﴿وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ﴾

Scanned by CamScanner

(لقمان آيت : ٣٤).

فاعلمه . علم ورکړو .

عزوجل . خدای تعالی .

الموضع الذي فيه يموت والموضع الذي فيه قبره حتى علم ذلك في حياته . نبي عليه السلام ته په حيات کې ددې علم حاصل شو .

وحق أعلمه من اعلمه من امته فهذه منزلة لا منزله فوقها زاده الله شرفاً وخيراً .

ده دا تطبيق وکړو ، زه در ته يو تطبيق کوم : ارض تموة دا علم خاصه ده په نزد د محققينو باندې دلته نبي عليه السلام ته د ارض تدفن علم ورکول شوې هغه بل تاويل دي دويم چې د جمهورو قول کې خلل را نه شي .

دارنګې سنن الکبری جلد ٦ صفحه ۱۷۸ صديق اکبر رضي الله عنه وصيت کوي تقسيم کړه دا مال دې هغه څوک دي :

وانما هو اخواك واختاك . دوه دي ورونه دي دوه دي خويندي دي .

قالت فقلت . عائشه بي بي فرمايي ما ورته وويل :

يا ابتاه هذه اسماء فمن الاخرى . دا اسماء ده بله خور مې کومه ده .

قال : وايي .

ذو بطن ابنة خارجة اراه جارية . هغه ابنت خارجه د هغې په خيټه چې ده په هغې مې ګمان د جينې دي .

دا حديث شرح السنة جلد ۸ صفحه ۳۰۳ شرح مشکل الآثار جلد ۱۵ صفحه ۲۹۲ ، مصنف عبد الرزاق جلد ۹ صفحه ۱۰۱ کې دا حديث را اخستې دي او مصنف عبد الرزاق دا الفاظ زيات کړي :

و ذو بطن ابنة خارجة قد ألق في نفسي أنها جارية فأحسنوا إليها . خدای تعالی زما په زړه کې القاء وکړه چې دا جاريه ده .

Scanned by CamScanner

په دې آخره کې د فتح الباري د ابن رجب يو ښکلي مضمون دي او ددې ټولو رواياتو تطبيق کوي چې کوم ځای کې منع راغلې او کوم ځای کې اثبات راغلې ددې مقصد څه شي دي خاصتاً د خمس لا يعلمهن الا الله په دې کې ابن رجب تفصيل کوي چې دا ټول په يو حکم کې نه دي اګر که سلفو کې محققين وايي دا خاصې د باري تعالی دي خو دې په کې فرق کوي دې وايي چې دې کې فقط د قيامت علم خاصه د باري تعالی ده ددې نه اخوا دا نور علوم چې دي دې کې تاويل کوي وايي خدای تعالی په تعليم سره ورکوي څه حصې ددې.

فتح الباري لابن رجب جلد ٦ صفحه ٣۴٢، باب لايدري متى يجيء المطر الا الله.

حضرت ابو هريره رضي الله عنه د نبي عليه السلام نه روايت کوي:

خمس لا يعلمهن الا الله.

دا حديث امام بخاري هم په کتاب الايمان کې را اخيستې دي اول کې دا روايات ذکر کوي:

قال النبي صلى الله عليه وسلم مفاتح الغيب خمس لا يعلمها الا الله لا يعلم احد ما يكون في غد الا الله ولا يعلم احد ما يكون في الارحام ولا تعلم نفس ما تكسب غدا وما تدري نفس بأي أرض تموت وما يدري أحد متى يجيء المطر قد سبق في الباب المشار اليه الاشارة الى اختصاص الله بعلم هذه الخمس التي هي مفاتح الغيب التي قال فيها ﴿وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ﴾ (الانعام آيت: ٥٩).

اوس وايي:

وهذه الخمس المذكورة في حديث ابن عمر ليس فيها علم الساعة. دې کې د قيامت علم نه دې ذکر شوې بلکې ذکر د متى يجيء المطر بدل الساعة عبارت راغلې دي.

وهذا مما يدل على أن علم الله الذي استأثر به دون خلقه لم ينحصر في خمس.

وايي د بخاري د ابن عمر په روايت کې د قيامت علم دغې پنځو کې نه دې راوړل شوې نو چې هغه را واخلې شپږ شول، وايي ددې نه پته ولګيدله چې دغه علوم چې خدای تعالی پورې خاص دي پنځه نه دي.

Scanned by CamScanner

بل هو اكثر من ذلك . دا ډير دي .

مثل علمه بعدد خلقه . دا ټول عدد د مخلوق څومره دي وايي دا دلته ذكر نه ده او دا خاصه د باري تعالى ده .

كما قال ﴿ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴾ (الانعام آيت : ٥٩)

دا خاصه د باري تعالى ده كلي تفصيل چې څوک عقيده ساتي دا ځای پرې رد كوي.

ومثل استئثاره بعلمه بذاته وصفاته واسمائه .

په كنه د ذات باندې دا علم د هيچا نشته دي هغه هم دې پنځو كې ذكر نه دي .

﴿ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ﴾ (سورة طه آيت : ۱۱۰) .

وفي حديث ابن مسعود في ذكر اسمائه . او استأثرت به في علم الغيب عندك .

هغه اسم چې تا ځان سره خاص كړي په علم غيب كې او ستا اسم دي او مونږ ته پرې علم نشته د هغې په وجه سوال درنه كوم نو چې هر كله علوم خاصه د باري تعالى پنځه نه شو زيات دي نو دا پنځه دلته ولې راغلل .

وانما ذكرت هذه الخمس لحاجة الناس الى معرفة اختصاص الله بعلمها والعلم بمجموعها مما اختص الله بعلمه وكذا العلم القاطع بكل فرد فرد من افرادها .

ګوري فردي علم قاطع علم دا خاصه د باري تعالى ده .

واما الاطلاع على شيء يسير من افرادها بطريق غير قاطع بل يحتمل الخطاء والاصابة فهو غير منفي .

هغه منفي نه دي ترې نه په دغه پنځو كې هم منفي نه دي سوا د قيامت د علم نه .

لانه لا يدخل في العلم الذي اختص الله به ونفاه عن غيره .

ولې خاصه د باري تعالى علم تفصيلي قاطع دي او غير ته يې چې وركړو دا بعضې اشياء باندې شو .

Scanned by CamScanner

وتقدم ایضاً ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوتي علم کل شيء الا هذه الخمس.
یعنې ذاتي یې نشته.
فاما اطلاع الله سبحانه له علی شيء من افرادها فانه غیر منفي أیضاً وهو داخل في قوله تعالی:
﴿عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ﴾ (سورة الجن آیت: ۲۶-۲۷).
ولکن علم الساعة مما اختص الله به.
قیامت علم خاص دي تر ده پورې هغه یې چا ته نه دي ورکړي.
ولم یطلع علیه غیره کما تقدم في حدیث سؤال جبریل للنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وکذلك جملة العلم بما في غد.
د صبا ورځې په ټولو څیزونو علم دا خاصه د باري تعالی ده.
وقد قالت جاریة بحضرته صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفینا نبي یعلم ما في غد فنهاها النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن قول ذلك.
ولې یې منع کړه ځکه دلته وهم د ما راغې.
وفینا نبي یعلم ما في غد.
دا ما د عموم د پاره دي او استغراق د پاره دي نو په دغه وجه باندې جملة العلم د ما في غد یې ورته ثابت کړو دغه افراط دي ځکه یې منعه کړه.
وقد خرجه البخاري في النکاح واما العلم بما في الارحام فینفرد الله تعالی بعلمه قبل أن یأمر ملك الارحام بتخلیقه وکتابته.
دا څلور میاشتې دي.
ثم بعد ذلك. بیا د څلورو میاشتو نه بعد.
قد یطلع الله علیه من یشاء من خلقه. بعضې عبادو ته په دې اطلاع ورکوي.
کما اطلع علیه ملك الارحام. هغه خو هم مخلوق دي ملک د ارحام چې پوښتنه کوي یا

Scanned by CamScanner

الله ذکر دي که انثی دي خالق ورته وايي ذکر دې نو علم يې راشي په دغه وخت کې هغه خو هم خالق نه دي مخلوق دي چې کومه فرشته په دغه وخت مقرره ده خو هغه وخت کې پرې پوه شي چې کوم وخت کې ده کې روح واچول شي .

فان كان من الرسل فانه يطلع عليه علماً يقيناً .

هغې کې خطاء نه وي .

وان كان من غيرهم من الصديقين والصالحين فقد يطلعه الله تعالى عليه ظاهراً كما روي الزهري عن عروة عن عائشة ان ابابكر لما حضرته الوفاة قال لها في كلام ذكره انما هو اخواك واختاك قالت فقلت هذا اخواي فمن اختاي ؟ قال ذو بطن ابنة خارجة فاني أظنها جارية .

بل روايت کې راځي :

قد القي في روعي انها جارية فاستوصي بها خيراً فولدت ام كلثوم .

هغه يې بيا وزيګوله .

واما علم النفس بما تكسبه غدا وبأي أرض تموت ومتى يجيء المطر فهذا على عمومه لا يعلمه الا الله واما الاطلاع على بعض افراده فإن كان بإطلاع من الله لبعض رسله كان مخصوصاً من هذا العموم .

نو بيا يې بعضې اوقاتو کې ورکوي :

كما أطلع النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ على كثير من الغيوب المستقبلة وكان يخبر بها فبعضها يتعلق بكسبه مثل اخباره انه يقتل امية بن خلف .

ده مخکې خبر ورکړې وه چې اميه بن خلف به زه وژنمه نو دا خو دده کسب دي ما في الغد باندې خو په بعضې اشياء دي :

واخبر سعد بن معاذ بذلك امية بمكة . سعد بن معاذ اميه ته وويل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ داسې فرمايلي وژني به دې .

وقال امية : والله ما يكذب محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وويل امية قسم په الله محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

Scanned by CamScanner

دروغ نه وايي همغه وه د احد ميدان کې ووهه او چې کله رابغ مقام ته ورسيده مړ شو .

واکثره لا يتلعق بکسبه . ډير کارونه د ما في الغد د بيان کړې دي هغه دده کسب پورې تعلق نه لري .

مثل اخباره عن الصور المستقبلة في أمته وغيرهم وهو کثير جداً .

وقد أخبر بتبوك انه تهب الليلة ريح شديدة . بيګا ته يو سخت باد راشي بيا يې وويل يو غت کافر به مړ کيږي بيا مدينه منوره کې د منافقانو يو مشر وه سخت غټ کافر وه هغه مړ شوې وه په دې شپه او هغه باد راوالوتو .

نو نچوړ د ټول بيان دا چې دغه پنځه خاصې نه دي دې پنځو نه اخوا څه نورې هم شته دي هغه هم د خداى تعالى په خواصو کې دي خو بعضې مغيبات چې مخلوق ته ترې ورکوي د هغې سره څه مقابله نشته دا يې د هغه متأخرينو رايه پيش کړه هر چې اسلاف دي عبدالله ابن مسعود او ابن عباس رضي الله عنه هغه خمسه خاصه د باري تعالى ګرځوي او څه علماء هغوي په تعليم د خداى تعالى عبادو ته څه بعضې اشياء د هغې نه هم ورکولې شي .

دا مسئله د علم غيب وه په آخره کې څه حوالې زمونږ د فقهاو چې په دې مسئله باندې څه ردود کړي دي نو د هغې د پاره يو تطبيق به ذکر کوو :

بحر الرائق جلد ۵ ، ۷ ، صفحه ۱۷ کې وايي :

والظاهر ان ادعاء ظن الغيب حرام وليس بکفر بخلاف ادعاء علم الغيب فانه کفر .

د ګمان د غيبو چې امکان دي چې صبا باران وشي وايي دا حرام دي داسې دي نه وايي د عوامو عقيده پرې خرابيږي خو کفر نه دي او که چا دعوى د علم غيب وکړه وايي کافر کيږي .

او دغه رنګې حاشية ابن عابدين جلد ۴ صفحه ۲۴ په هغې کې دبزازي نه نقل کوي :

يکفر بادعاء علم الغيب . په دعوى د علم غيب سړي کافر کيږي .

او دارنګې د تتارخانې عبارت هم په دغه صفحه کې پيش کوي ددغې عباراتو چې زمونږ فقهاء دي ته نسبت د کفر کړې دي يا ملا علي قاري شرحه فقه اکبر کې کړې دي دعوى د علم غيب ته يې کفر ويلي دي يا لکه مخکې چې چا راليږلې وه د قاضي خان په حواله چې

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

چا نکاح ترله او گواه يې په کې نبي عَلَيْهِ السَّلَام او خدای تعالی وګرځول وايي دا کفر دی ځکه نبي عَلَيْهِ السَّلَام يې عالم بالغيب وګڼه دا يې ورته علت ګرځولی دی ددې ټولو نچوړ حاشيه ابن عابدين جلد ۴ صفحه ۲۴۳ کې هغه تفصيل سره بيان کړی دی .

هغه وايي مطلب في دعوی علم الغيب په دعوی د علم غيب کې نچوړ او رساله :

قلت وحاصله ان دعوی علم الغيب معارضة لنص القرآن فيكفر بها .

د علم غيب دعوی که چا وکړه چې زه عالم بالغيب يمه نو وايي داد نص قران مخالفه ده پرې کافر کيږي .

الا اذا اسند ذلك صريحاً أو دلالتاً الى سبب من الله كوحي او الهامٍ .

مګر که چيرته نسبت ددې علم غيب يې او که يو سبب ته چې هغه سبب وحي ده يا الهام دي بيا کفر نه دی نو دلته خپله پته ولګيده چې زمونږ فقهاء مدعي د علم غيب ته کافر ويلي دي معنی دا چې علم غيب ذاتي ثابتوي که چيرته يې عطاء من الله وګڼله په طريقې د وحې چې د وحې ډير اقسام دي يا په طريقې د الهام سره نو هغې ته بيا کفر نه ويلې کيږي .

دده له عبارت نه نچوړ دغه راووته نور په علم غيب ذاتي باندې راغې يا په کلي تفصيلي استغراقي فردي باندې راغې او اثبات چې وشو هغه علم غيب جزي شو عطائي کله وي کله نه وي بعضې اوقاتو کې خدای تعالی ورکوي بعضې اوقاتو کې نه ورکوي او دا که څوک وايي چې علم نه شي ويلي نصوص پرې مونږ پيش کړل چې د علم اطلاق پرې باندې کيږي البته داسې الفاظ وويل : ان النبي عالم بالغيب دا اطلاقات نه کتابونو کې شته نه مفسرينو را اخيستي دي په داسې الفاظو باندې نسبت نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته ښه نه دي ځکه وهم د علم غيب کلي په کې کيږي او د ذاتي دعوی په کې راځي بلکې داسې به سړي وايي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بعضې مغيباتو علم لري انه عالم الغيب دا چيرته هم کتبو ده ته نه دي ويلې .

بل دا صفت د خدای په صفاتو کې عالم الغيب والشهادة راغلي نو مخلوق ته چې په دغه الفاظو نسبت ونه شي نو دا به ښه خبره وي .

مسئله د علم غيب خلاصه شوه

Scanned by CamScanner